# شریعت

په اوونۍ کې دوه ځله خپرېږي

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

د تأسیس کال ۱۳۷٤ هـ.ش/ دوهم پړاو / (۱٤۲) ګڼه / یکشنبه ۰٤ رمضان‌المبارک ۱٤٤٤ هـ.ق/ ۰٦ حمل ۱٤۰۲ هـ.ش / ۲٦ مارچ ۲۰۲۳ میلادي


د سوداګرۍ خونه

## اوسمهال بهر ته د زړو اوسپنو پرځای ګول سیخ صادرېږي

د افغانستان د سوداګرۍ خونې سرپرست محمد یونس مهمند وایي چې له افغانستان څخه بهر ته د زړو اوسپنو قاچاق کولو مخه نیول شوې او اوس د اوسپنې پر ځای نورو هیوادونو ته ګول سیخ صادرېږي. تر دې مخکې حکومت د کابینې غونډه کې له هېواده بهر د هر ډول اوسپنو او کباړو پر ایستلو بندیز لګولی. په ورته مهال د چارواکو په وینا، اوس د افغانستان په بېلابېلو ولایتونو کې د اوسپنې ویلې‌کولو شاوخوا ۴۲ فابریکې فعالیت کوي چې د ګادړو او ګول سیخ ترڅنګ د المونیمي چودني توکو او نورو بېلابېلو توکو تولیدي کارخانې فعالیت کوي. د راپورونو پر اساس په یادو کارخونو کې لسګونه زره کسان په کار بوخت دي. خو نورو هېوادونو ته د خام توکو قاچاق بیا د کورنیو تولیداتو مخه ډب کولی شي.

## د قوش‌تېپې کانال د لومړي فاز چارې ۷۰ سلنه بشپړې شوې دي



د ملي پراختیا شرکت د قوش تېپې کانال پروژې د لومړي فاز د عملي کار له ۷۰ سلنې پرمختګه خبر ورکوي. د قوش تېپې کانال د پروژې مسوول وایي چې د روان کال تر چنګاښ میاشتې پورې به د دې پروژې لومړی فاز چې... ۷مخ

## د تاجکستان په بدخشان کې د افغان قونسلګرۍ فعالیتونه و ارزول شول



شریعت: د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت د مالي او اداري رئیس محمد موسی امیري په مشرۍ پلاوي د تاجکستان اړوند د بدخشان مرکز خاروغ کې د افغانستان له قونسلګرۍ څخه لیدنه وکړه.

د بهرنیو چارو وزارت ویاند عبدالقهار بلخي په خپله ټویټر پاڼه لیکلي، چې یاد پلاوي په دغه سفر کې د قونسلګرۍ د چارو د ارزونې ترڅنګ د افغانستان د قونسلګرۍ ودانۍ له نژدې وکتله او د بیارغونې په اړه یې خپله ارزونه د وزارت مقام سره شریکه کړه. ۷مخ

## هېواد کې وروستیو اورښتونو ۱۰ کسانو ته مرګ ژوبله اړولې



پېښو ته د رسېدو په چارو کې د دولت وزارت ویاند وایي، د تېرو دوو ورځو پر مهال په هېواد کې د بارانونو او واورې ورېدو له کبله درې کسان مړه شوي او اووه نور ټپیان دي. د یاد وزارت د ویاند شفیع الله رحیمي په خبره، ۷۵۶ کورونه په نیمه او بشپړ ډول ویجاړ شوي دي. نوموړی زیاتوي، ۷مخ

## بلخ کې تېر کال ۱۱۵ لویې او وړې پروژې بشپړې شوې دي

د بلخ سیمه ییز مسوولین وایي، چې تېر ۱۴۰۱ لمریز کال کې د دغه ولایت په مرکز او بېلابېلو ولسوالیو کې ۱۱۵ لویې او وړې پروژې بشپړې او ګټې اخیستنې ته سپارل شوې دي.

د دغه ولایت مرستیال والي مولوي نورالهادي ابو ادریس له باختر آژانس سره په خبرو کې وویل، چې تېر کال په دغه ولایت کې ۷مخ

## بهای مواد اولیه کنترول و بررسی گردید



شریعت: کمیسیون جلوگیری از احتکار و کنترول قیمت مواد اولیه از تطبیق نرخنامه در بازارهای مختلف سطح شهر نظارت و بررسی کرد.

به دوکانداران و فروشندگان متخلف توصیه داده شد...ص۷

عمران خان

## نړیوال دې اسلامي امارت سره تعامل وکړي

د پاکستان پخواني لومړي وزیر عمران خان ویلي که نړیواله ټولنه په افغانستان کې د بشري حقونو پلي کېدل غواړي له سرپرست حکومت سره دې تعامل بنه کړي. عمران خان دا خرګندونې له بریتانوي ۴ نیوز تلویزیون سره د مرکې پر مهال کړې دی. هغه په ټینګار سره ویلي، د افغانانو دا نه خوښېږي چې بل څوک ورته دې ورته د څه کولو او یا ویلو ... ۷ خ

## لیلام ۱۵ میلیون دالر برای تقویت ارزش پول افغانی

شریعت: د افغانستان بانک، برای تقویت بیشتر ارزش پول افغانی، در نظر دارد که پانزده میلیون دالر دیگر را امروز ششم حمل سال‌روان، لیلام نماید.

بانک مرکزی روز گذشته با نشر خبرنامه‌یی، از بانک‌ها و شرکت‌های صرافی و خدمات پولی واجد شرایط خواست که در این داوطلبی شرکت نمایند و برندگان لیلام مکلف استند، تا حسابات شان را تا ختم روز تصفیه کنند.

در خبرنامه هم‌چنان گفته شده است که تسویهٔ قسمی معاملات مجاز نیست و برندگان... ص۷



خلیل الرحمن حقاني

## د نوي طرحې له مخې به ټول کډوال مناسبو سیمو ته ولېږدول شي

د کډوالو او بېرته راستنېدونکو چارو وزارت سرپرست خلیل الرحمن حقاني فراه ته د خپل سفر په ترخ کې ویلي، چې د ۱۴۰۲کال لپاره د هېواد دننه او له بهر څخه راتلوونکي کډوالو د لېږد لپاره سالمه طرحه جوړه او ورته ګڼې آسانتیاوې په پام کې نیول شوې دي.

خلیل الرحمن حقاني له باختر آژانس سره په خانګړې مرکه کې وویل، چې یاد وزارت په پام کې لري، څو په ۱۴۰۲ کال کې د هېواد دننه او بهر څخه راتلوونکي کډوال د سالمې جوړې شوې طرحې او داډمن امنیت له مخې بېلابېلو سیمو ته ولېږدوي او ورته به ګڼې آسانتیاوې برابرې کړي.

حقاني همدارنګه فراه ته... ۷مخ

## برگشت ده‌ها کودک پس از درمان به کشور




شریعت: پنجاه کودک افغان پس از تداوی در آلمان، به کشور برگشتند.

دفتر مطبوعاتی هلال احمر افغانی روز گذشته با نشر خبرنامه‌یی گفت: پنجاه کودک بیمار که جهت تداوی به آلمان فرستاده شده بودند، پس... ص۷


برگزاری نمایشگاه کتاب و وضعیت ناجور مطالعه در افغانستان ص ۲

فرصتونه او مسؤلیتونه! ۳مخ

روژه د کامیابۍ او برکتونو میاشت ده! ۴ مخ


سرمقاله

## رمضان ماه عبادت، استغفار و صدقه

رمضان ماه عبادت، استغفار، همدلی، اتحاد و صدقات فرا رسیده است و چه زیباست که مسلمانان با استفاده از این ماه مبارک، بیشتر از همه به خودسازی، اصلاح نفس و دادن صدقات بپردازند، زیرا پیامبر بزرگوار اسلام حضرت محمد مصطفی(ص) فرموده:«ای مردم، ماه خدا، ماه مغفرت و برکت به شما روی آورده که بهترین ایام می‌باشد و عموم مسلمانان در آن به مهمانی خداوند عزوجل دعوت شده‌اند.»

از اینرو ماه مبارک رمضان در میان دیگر ماه‌های سال از ویژگی خاصی برخوردار است که می‌توان از نازل شدن کلام پاک و مقدس الهی، شب پر فضیلت قدر و زمزمه‌های قاریان قرآن از بلندگوهای مساجد در شب‌های رمضان، اشاره نمود.

بنا برین مسلمانان باید از این ماه پر فضیلت استفاده عظیمی ببرند، علاوه بر خودسازی و اصلاح نفس، از خداوند(ج) توفیق اطاعت، دوری از اعمال زشت و توانایی خدمت به خلق الله و دستگیری مستمندان را نیز، استدعا نمایند، زیرا طلب آمرزش از خداوند سبحان در هر ایام به خصوص در ماه مبارک رمضان و داشتن روحیه توبه و پشیمانی از گناه‌ها علاوه بر آثار و برکات معنوی در زندگی انسان، پاداش عظیمی در آخرت نیز دارد که در توصیف و تمجید نمی‌گنجد، با چشم و گوش نمی‌توان آن‌را دید و شنید و یا هم لمس کرد.

روی این اساس مسلمانان باید در این ماه پر برکت در پهلوی تسبیح، تراویح، عبادات فرضی و نفلی، صدقه، خیرات، ... ص۲

## ترمیم و فعال‌سازی ده‌ها عراده وسایط نظامی

شریعت: تیم تخنیکی لوای دوم قول اردوی ۲۰۳ منصوری، ۴۱ عراده وسایط نظامی را که غیر فعال بودند، ترمیم و فعال نمودند.

دفتر مطبوعاتی وزارت دفاع ملی روز گذشته با نشر خبرنامه‌یی گفت: این وسایط شامل ۳۰ عراده تانک هاموی، ۶ عراده موتر انترنیشنل و ۵ عراده رنجر می باشد.

قوماندان لوای دوم قول اردوی منصوری با قدردانی از زحمات تیم فنی و تخنیکی این لوا اظهار امید واری کرد که وسایط بیشتر ترمیم و قابل استفاده شوند' این در حالی است که اخیراً سه صد عراده واسطه نقلیه غیر فعال نظامی در قول اردوی ۲۰۵ البدر ترمیم و دو باره فعال گردید.

## تېره اونۍ د اوسپنې پټلۍ له لارې څه باندې ۱۲۳زره ټنه انتقالات شوي



په تېره یوه اونۍ کې د اوسپنې پټلۍ له لارې څه باندې ۱۲۳زره ټنه انتقالات ترسره شوي دي. د اوسپنې پټلۍ اداره وایي، چې تېره اونۍ د حیرتان، اقینې او تورغونډۍ اوسپنې پټلیو له لارې ۱۲۳ زره ۶۷۲ مټریک... ۷مخ

## سمنګانو او بلخ کې له څه باندې ۳ زره اړمنو کورنیو سره مرسته وشوه

د سمنګانو او بلخ د کلیو، بیا رغونې او پراختیا ریاست مسوولین وایي، چې په دغو ولایتونو کې د خوړو نړیوال پروګرام سره له ۳ زره ۶۸۶ اړمنو کورنیو سره د خوراکي توکو مرسته وشوه.

د دغه ولایت د کلیو، بیا رغونې او پراختیا ریاست مسوولینو په وینا دغه مرستې په حضرت سلطان ولسوالۍ کې د خوړو نړیوال پروګرام له لوري ترسره شوې، چې په کې هرې کورنۍ ته ۵۰ کیلو اوړه، ۴.۵۵ لیتره غوړي او ۶.۲۵ کیلو دال نخود ووېشل شول. ۷مخ

## هلمند کې د اینجي کرکېلې دېرولو هڅې پیل شوې



د هلمند د کرنې ریاست مسوولین وایي، سږ کال یې په دغه ولایت کې د انجي بوټي کرکېلې دېرولو لپاره هڅې پیل کړې دي. د یاد ولایت د کرنې، اوبولګونې او مالدارۍ ریاست د طبیعي بوټو څانګې مدیر انجنیر محمد اسلم بشردوست وویل، دوی پلان لري چې سږ کال په هلمند کې د انجي کرلو ته خلک وهڅوي. هغه زیاته کړه، د کرنې ریاست درې کاله وړاندې ۷مخ

# برگزاری نمایشگاه کتاب و وضعیت ناجور مطالعه در افغانستان

**اسفندیار**



هم‌زمان با فرا رسیدن فصل بهار و در ماه مبارک رمضان ریاست کتب بیهقی یک نمایشگاه سه روزه کتاب را با اشتراک ده‌ها ناشر و کتابفروش در مرکز شهر کابل برای سه روز برگزار کرد و هزاران جلد کتاب را به نمایش گذاشتند.

مسوولین این نمایشگاه هدف از برگزاری آن را تقویت فرهنگ مطالعه در میان شهروندان عنوان کرده می‌گویند تلاش دارند تا از این طریق برای یک جامعه آگاه بستر سازی شود؛ راهی که به گفته آگاهان دشوار و پر خم و پیچ است. چرا که از سال‌ها به اینسو تلاش‌های بی فرجامی از سوی نهادهای مختلف در خصوص همگانی سازی مطالعه و تقویت بنه‌های آموزش و پرورش صورت گرفت، اما آنچه که در این زمینه تا هنوزهم مایه نگرانی بوده سرامد پایین مطالعه در میان مردم، توده ها و به ویژه نسل جوان است.

با این حال عبدالعلیم خونواک مفتی زاده رئیس انتشارات کتب بیهقی می‌گوید که مردم به تعلیم و تحصیل نیاز دارند بدون آن نمی توان به جلو رفت؛ چون تعلیم و تحصیل مانند خون به انسان حیاتی است. با این حال هدف ما از برگزاری نمایشگاه‌ها و سایر سهولت‌های دسترسی به کتاب این است تا فرهنگ مطالعه را ترویج دهیم و از هر راه ممکن این اهداف خویش را دنبال می‌کنیم.

وی افزود، ما در سال پیش‌رو سه نوع نمایشگاه روی دست داریم؛ ولایتی، در مرکز و یکی هم بین المللی که از دوازده کشور در کابل دعوت خواهد شد تا در نمایشگاه کتاب شرکت کنند.

به بیان آقای مفتی زاده، این نمایشگاه محدود به کتاب‌های مشخص نبود و جز کتاب‌های مخالف شعایر اسلامی و کشوری عناوین مختلف را در بر می‌گرفت و به نمایش گذاشته شد. نماینده های نزدیک به نود ناشر در این برنامه اشتراک کرده بود و بیش از یک میلیون کتاب به فروش رسیده و در سه روز هزاران تن بازدید کننده داشتیم. نمایشگاه های بعدی ما انتقالی خواهد بود و در نقاط مختلف شهر برگزار خواهد شد.

آقای مفتی زاده گفت که هم زمان با برگزاری این نمایشگاه و فرا رسیدن ماه مبارک رمضان، ما یک قران شریف به چاپ رساندیم که هم خطاط آن افغانی است و هم در مطبعه افغانی به چاپ رسیده که این کار سبب میشود تا ما دیگر از کشورهای همسایه وارد نکنیم و همینجا چاپ کنیم و در اختیار مردم قرار دهیم.

وی از جوانان خواست تا به مطالعه رجوع کنند و همین‌گونه از نویسنده‌ها و ناشران تقاضا کرد تا بیشتر کتاب‌های مفید با عناوین مختلف بنویسند و ترجمه کنند.

در عین حال رییس انتشارات کتب بیهقی گفت که ما با وزارت مالیه صحبت کردیم و تخفیف خوبی درقسمت مالیه و تاکس برای کتابفروشان و ناشران گرفتیم و در کنار آن حکومت امارت اسلامی در تلاش است تا یک مارکیت ناشران و کتابفروشان را ایجاد کند تا سهولت هرچه بیشتر در کار کتابفروشان و ناشران به وجود آید.

زاهد علی مومند استاد پوهنتون طبی کابل که یکی از بازدید کننده های نمایشگاه کتاب بود ضمن مفید خواند این نمایشگاه گفت: تقویت فرهنگ مطالعه یک امر ضروری در کشور است. ما باید یک تعلیمات فوق العاده را روی دست گیریم، به این معنا که تمام جریان های تعلمی و تحصیلی را فعال کنیم و زمان دروس را دوچند افزایش دهیم. به باور آقای مومند افغانستان از کشورهای اروپایی و همسایه‌ها در ابعاد مختلف خیلی فاصله دارد. و گفت: اگر یک افغانستان مترقی بخواهیم باید تلاش کنیم تا تمام تمرکز خود را روی تعلیم و تحصیل نمایم. بی سوادی باعث همه بد بختی است و بدون تعلیم پیشرفت نا ممکن است. من به عنوان یک آموزگار از امارت اسلامی میخواهیم تا در این زمینه بیشتر غور و تلاش کند.

به گفته آقای مومند وضعیت در پوهنتون‌ها زیاد قناعت بخش نیست و بیشتر فرار مغزها صورت گرفته است. مشکلات اقتصادی از هر طرف بی‌داد میکند. مشخصاً خیلی از استادان به دلیل مشکلات اقتصادی ترک وظیفه کرده اند.

شرین خان پنهاهی مسوول نمایشگاه انتشارات سعید گفت: برگزاری چنین نمایشگاه‌ها به فرهنگ مطالعه کمک زیادی می‌کند و جوانان بیشتر به تحیصل رجوع خواهند کرد. ما میخواهیم که این‌گونه نمایشگاه باز هم برگزار شود.

وی گفت: مشکلات عمده کتاب فروشی و انتشارات، قلت فروشات است. به خاطری که وضعیت اقتصادی مردم خوب نیست. سال که گذشت ما در مقیاس به سال‌های قبل از آن خیلی اندک چاپ داشتیم و فروشات ما نزدیک به نود درصد کاهش یافته است. بناً از حکومت امارت اسلامی می‌خواهیم که در خصوص تحصیلات جوانان تلاش کند و برای جوانان زمینه های کاری را فراهم نماید که بدون شک تاثیرات مثبت کار روی کتاب و کتابفروشی هم دیده خواهد بود.

در همین حال، کتال نژند یکی دیگر از فروشنده های کتاب در شهر کابل که در این نمایشگاه نیز شرکت کرده بود، ضمن قدر دانی از این اقدام وزارت اطلاعات وفرهنگ مشخصا ریاست کتب بیهقی گفت: نمایشگاه خیلی عالی و فراتر از انتظار ما بود.

وی در یک تعریف کلی تصویر نه چندان مناسب از وضعیت کتاب و کتابفروشی در افغانستان بیان کرده گفت: وضعیت کتاب و کتابفروشی زیاد تعریف ندارد و اینده چندان روشن از آن متصور نیست. چون اقتصاد مردم شکننده است و آنهای که کتاب‌خوان اند پول ندارند و آنهای که کمابیش پول دارند کتاب نمی‌خوانند. به اطمینان گفته می‌توانیم اگر فرهنگ مطالعه نهادینه و فراگیر شود مشکلات یکی پی دیگر بر طرف خواهد شد و جامعه سالم و پویا خواهیم داشت.

غوث الدین کمالزاده مدیر عمومی فروشات و مسوول نمایشگاه ریاست بیهقی هم چنین نمایشگاه امسال را متفاوت عنوان کرده و بیان داشت: در این نمایشگاه تفاوت های زیادی احساس می‌شد و یکی از آن تفاوت‌ها تعداد گسترده پر شور مردم نسبت به گذشته بود. در سه روز گذشته بازدید کننده های زیادی از این نمایشگاه دیدار کردند، حتی جای برای تردد نبود.

وی گفت: در این نمایشگا کتاب‌های مختلف با عناوین گوناگون به نمایش گذاشته شده بود. اما به خاطر ماه مبارک رمضان کتاب‌های دینی بیشتر به نظر می‌رسید. وی افزود که ریاست کتب بیهقی در جنب این نمایشگاه کتابخانه بیهقی را نیز که از چهار سال بدینسو غیر فعال بود دوباره فعال کرد.

قابل یاد آوری است که این نمایشگاه روز نخست سال جاری به مدت سه روز در قلب شهر کابل، مکان موسوم به«ده افغانان» برگزار شد و دست کم روزانه صدها بازدید کننده از اقصا نقاط شهر کابل از آن دیدن کردند.




**سالمزی**

زما نظر دادی چې په افغانانو خو دا شل کاله هغه مفسدینو، خاینینو، غدارانو او د پردیو په استخباراتو پوري تړلو ایجنټانو او غاصبینو حکومت وکړ چې افغانستان یې د مفسدو هېوادونو د لیست سرته ورساوه دا شل کاله مو له هغوی سره گوزاره کوله خو له بده مرغه چې له اسلامي امارت سره وخت تېرول او هغوی ته وخت ورکول درته ستونزمن ښکاري افغانانو ورونو او خویند و د کورنیو او بهرنیو دښمنانو په پوچوا و بې ځایه تبلیغاتو مه غولیږئ دا حقیقت به تاسې ته وخت او تاریخ څرگند کړي چې نړیوال استکبار چې امریکایي قیادت کوي زموږ د هېواد او ملت د آبادۍ، ترقۍ او زموږ د ملت د پرمختگ او هوساینې غم ندې راخیستي او هغوي زموږ سره په مخامخ جگړه کې ما ته خوړلې، اوس غواړي په غیر مستقیم شکل د ملت او حکومت ترمنځ د نفاق زهر وشیندي او په دې وسیله د حکومت او ملت ترمنځ فاصله رامنځته کړي او خپلې موخې تر لاسه کړي.

اسلامي امارت مسئولیت لري او د ملت غوښتنو او پوښتنو ته به په خپل وخت ځواب اورسیدنه کوي او دا د هغوی مکلفیت او دنده ده، بهرنیان حق نه لري چې د نورو په چاروکې لاس وهنه وکړي، راځئ دا ترخې تجربې بیا تکرار نکړو چې هیڅ پایله نلري موږ په ډیرو پسې په پټو سترگو اقتدا وکړه نور باید دغه ذهنیت ته د پای ټکی کیږدو لکه چې ما د خپل شعر په یو بیت کې ویلی دي:

ترخو به دړندو په څېر د نورو په اوږوځو!<br>
پخپله نورې سترگې غړول غواړي ملگرو<br>
د لاس یوه یوه گوته ماشوم هم شي ماتولی!<br>
حالات رانه قوي غوندې منگول غواړې ملگرو<br>
د یو موټي او غوړیدلی افغانستان په هیله

**ومن الله توفیق**

## رمضان ماه عبادت، ...

تهیه افطار، دستگیری فقرا و بی‌نوایان را نیز سر لوحه روزمره خود در این ماه قرار دهند.

از رسول الله(ص) روایت است که مبارک در یکی از خطبه‌ها فرمود: هرکس در ماه رمضان به خاطر خدا به روزه‌دار، افطاری بدهد، خداوند ثواب آزاد کردن غلامی را به وی می‌دهد و گناهان او را نیز می‌بخشد، صحابی‌یی عرض کرد: یا رسول الله(ص) ما توانایی افطاری دادن را نداریم، چگونه به این فیض برسیم؟ مبارک فرمود: «از آتش جهنم خودرا برهانید هر چند به اندازه یک خرما یا نیمی از آن، باشد. پس مسلمانان باید در این ماه مبارک تلاش کنند تا رضای خداوند بلندمرتبه و مخلوقش را نیز به دست آورند و در هر شغل و مسلکی که استند، تعهد، انصاف، عدالت، راستی، خودگذری و مرووت را پیشه کنند تا خداوند عزوجل پاداش بزرگی در دنیا و آخرت نصیب ما مسلمانان نماید.

# د کانونو په برخه کې هرډول پانگونه د هېواد اقتصاد پیاوړی کوي

**شاه محمود درویش**

زمونږ گران هېواد سرلوړی افغانستان واقعاً د طبیعی زېرمو له پلوه یوغني ملک دی چې له دغه پاک الله (ج) راکړیو زېرمو څخه باید د ملي شتمنیو په توگه استفاده وشي، نه داچې په غیر قانوني توگه استخراج او دیو څو تنو له خوا یوازې د ځان په گټه ترېنه کار واخېستل شي، لکه څنگه چې په تیرو کلونو کې د هیواد په ځینو ساحو کې د یوشمیر خود غرضو افرادو او اشخاصو (زورواکو) له خوا ځیني کانونه او ځمکنۍ زېرمې په ناسمه او غیرقانوني توگه را ویستل شوي او یوازې یې د ځان په گټه ترې استفاده کړې، خو لاهم د هېواد په بیلابیلو برخوکې ځمکنۍ زیرمې پرخپل حال پرتې دي چې په دې اړوند د اسلامی امارت د مسوولو ارگانونو جدي او ځانگړې پاملرنې ته اړتیا شته ترهغو چې دغه بهیر ته په هراړخیزه توگه د خپلو کاري لومړیتوبونو په سرکې ځای ورکړي او له دغه شتمنیو څخه په سمه او معقوله توگه گټه واخیستل شي ترڅو له امله یې د هیواد له پښو غورځیدلی او کمزوری اقتصاد هم وده وکړي او لاپیاوړی شي ، دا واقعیت دی چې اوس مهال په زیاته کچه د اسلامي امارت بودجه ددې جوگه نه ده چې په هراړخیزه توگه په سترو او کوچنیو پروژو کار پیل کړي خو دغه چارې د اسلامی امارت ترڅنگ د خصوصي پانگې اچونو په مرسته هم ترسره کیدای شي ، بناً دې کارته باید پانگوال راجلب شي چې د گڼو طبیعي زیرمو په راایستلو، د صنعتي فابریکو په جوړولو او بیارغاونې کار پیل کړي ، له شک پرته چې په داسې بنسټیزو پروژو کې د کارپیل به مثبتې او گټورې پایلې ولري ځکه هم به بیکاره هیوادوالو ته دکار زمینه او ښه شرایط برابرشي او هم به ددغه راز طبیعی زیرمو را ایستل دهېواد د اقتصاد په وده او پرمختیا کې ښې او گټورې اغېزې ولري خوشرط دادی چې ټولې چارې یې باید په بشپړصداقت او روښتیا پرمخ لاړې شي .

د یادداښت وړده له نیکه مرغه چې په دې وروستیو کې په هېواد کې د ډله ییزو خپرندویه سرچینو په حواله د کانونواوپترولیم وزارت سرپرست له قوله داسې ویل شوي دي: دهیواد په ټولو ولایتونو کې دکوچنیو او لویو کانونو د سروې او بلاک بندي لړۍ پیل شوې چې په مسلکي استخراج او پروسس سره به یې اقتصادي پرځان بساینې او صنعتي کیدوته لاره هواره شي.

نومورې داهم ویلي چې په تیر کال کې د ۸۰ کوچنیو کانونو د استخراج لپاره کورنیو شرکتونو ته قراردادونه ورکړل شوي دي ، د ورکړل شویو مالوماتو له مخې، افغانستان ۱۴۰۰ پیژندل شوي کانونه لري او د مارکیټ واچ د اطلاعاتو پربنسټ ارزښت یې هم (۱۱) اعشاریه (۵) ترېلیونه ډالره اټکل شوی دی.

ددې ټکي یادونه هم ضروري ده، افغانستان یو له هغو هېوادونو څخه دی چې که چېرې واقعاً په هراړخیزه توگه کورنی پانگه وال په بیلا بیلو برخو کې په کې پانگونی وکړي نو اړوندو لورو ته به هم بی له شکه چې بی گټې نه وي ، ځکه چې افغانستان ډیرښه امکانات لري، یعني د طبیعي زیرمو اوکانونو لکه ، طلا ، اوسپنې ، مسو، تیلو ، گازو اونورو قیمتی ډېرو پورې یې یادونه کولی شو، دغه راز پراخې طبیعي زیرمې، پریمانه اوبه ، ښه استعدادونه اوستر بشري ځواک هم لري چې باید له دغو ټولو څخه په ښه توگه گټه واخېستل شي چې په دې برخه کې واقعاً د اسلامي امارت او ترڅنگ یې مسوول ارگانونه دنده لری چې زیاته پاملرنه وکړي ترهغو چې کورني او بهرنی پانگه وال دیته وهڅوی چې په پراخه کچه په دی برخه کې پانگونه وکړی خو د اسلامی امارت د اړوندو ارگانونو دنده اومسوولیت هم دی لکه څنگه چې مخکې مو یادونه وکړه، دامنیتي مصوونیت ترڅنگ اړوندو پانگه والوته باید دپانگونې په موخه په بیلا بیلو برخو کې ښې آسانتیاوې ، لازم شرایط اوسهولتونه هم برابرکړی ترهغو چې دوئ په ډاډه زړه، آرام اوهوسا خاطرپانگونی وکړي او په افغانستان کې له برابرشویو فرصتونو څخه گټه واخلی .

داهم یوڅرگند واقعیت دی که بهرنی مرستندویه بنسټونه د نورو مرستو پرځای په افغانستان کې پانگونې وکړی چې زمونږ دپتمنو او جگړه ځپلو خلکو په گټه تمامیږی ، ځکه له یوپلوه زمونږ خلک کسب اوکارزده کوی ، له بل پلوه هېواد والو ته په هېواد کې دننه دکاراو سالمو بوختیاوو زمینه هم برابریږي او په ټولیزه توگه دهېواد او هېوادوالو داقتصادی پرمختگ سبب کېږی ، نواړینه ده چې افغان پتمن ولس باید په هراړخیزه توگه له اسلامی امارت سره همکاراومرستندوې و اوسی ترهغه چې اسلامي امارت وشي کولای د ولس په پراخه همکاری او ملاتړ په هیواد کې د ډاډمن امنیت دټینگښت ترڅنگ دهېواد د کاني زیرمو دسالم استخراج ، داقتصادی بنسټونو د ودې او پراختیا په برخه کې خپل پلانونه په ښه توگه تطبیق کړي اوپه دی توگه په پایله کې دگران هېواد دپرمختگ او قدرمنو هېوادوالو دهراړخیزې هوساینې سبب شي اودمگړی چې گران هیوادوال له کوموستونزو سره مخامخ دی بې له شکه چې دغه ستونزی یوازی اویوازی دهېواد دملی أقتصاد د ودې اوپرمختگ په پایله کې سمښت موندلی شی اوبس، پردې بنسټ دالازمي بریښي چې دهېواد د ملی اقتصاد د ودی او پرمختگ له پاره افغان غیرتي ولس په گډه د هراړخیزې همکارۍ له مخې لاس په کارشي.

# باغ‌داری و نهال‌شانی در پرتو ساینس و قرآن

**بخش چهارم / ابوالیاس جهادوال**

**حفظ و مراقبت:**

از اینکه درختان نقش بسزای در حفظ محیط زیست و اقتصاد کشور دارد و زمینه‌ساز حرکت در جهت دستیابی به اهداف توسعه پایدار است، باید به همان اندازه‌یی که در غرس آن تلاش می‌کنیم در حفظ و مراقبت آن نیز کوشا باشیم.

باوجودی‌که همه ساله شاهد کمپاین‌های وسیع نهال‌شانی در کشور هستیم که طی آن هزاران اصله نهال در مناطق مختلف کشور غرس می‌شود اما نسبت عدم توجه در حفظ و مراقبت آن بیشتر این نهال‌ها دوباره خشک شده و زحمات ما حیف می‌شود بناءً اگر خواهان جامعه پایداری هستیم باید نه تنها در حفاظت نهال‌های جدیداً غرس شده بیش از پیش بکوشیم، بلکه برای حفاظت درختان و جنگل‌های موجود نیز تلاش‌های خود را بیشتر نمائیم.

حفظ و مراقبت درختان به چند مورد نیاز دارد که در ذیل مختصراً از آن یاد آور می‌شویم:

**۱. آب‌یاری:** آب‌یاری درختان به عوامل زیادی از جمله سن، گونه درخت، زمان سال، آب و هوا و نوع خاک بستگی دارد. به‌طور معمول درختان تازه کاشته شده و جوان به آبیاری بیشتری نسبت به درختان قدیمی نیاز دارند. اما در طول دوره های طولانی خشک‌سالی همه درختان باید از آبیاری کافی بهره مند شود. در طول دوره خشک‌سالی هدف این است که برای به حداکثر رساندن رشد درختان جوان و حفظ سلامتی درختان قدیمی آب کافی ارائه شود.

**۲. تقویت خاک و حفاظت از پایداری آن:** با غنی کردن بستر رشد گیاهان و جلوگیری از فرسایش خاک می‌توانیم به رشد درختان جدید کمک کنیم. تحقیقات نشان می‌دهد که استفاده از پوشش گیاهی موجب افزایش مقاومت و کنترول فرسایش و ناپایداری خاک می‌شود، زیرا حضور ریشه در خاک باعث افزایش چسبندگی ذرات خاک شده و پایداری خاک را نسبت به زمانی که خاک بدون ریشه است، افزایش می‌دهد.

۳- خودداری از روشن نمودن آتش: لازم است با نزدیک شدن فصل گرما مراقبت‌های لازم را در پیش بگیریم و نکات ایمنی را به‌طور کامل رعایت کنیم تا از آتش سوزی در طبیعت به‌خصوص ساحاتی‌که تحت پوشش درختان قرار دارد، جلوگیری شود. بر علاوه هم‌زمان با گرم شدن هوا علوفه‌ها و درختان خشک می‌شوند که احتمال آتش سوزی‌های بسیار بزرگ در جنگل‌ها به‌طور قابل توجهی افزایش می‌یابد، به گونه‌ای که ممکن با کوچک‌ترین جرقه، آتش با سرعت زیادی در سطح وسیعی از عرصه‌های منابع طبیعی گسترش یافته و منجر به خسارات جانی، مالی و از دست رفتن پوشش درختان شود. بنابراین لازم است گردشگران تا جای ممکن از روشن کردن آتش در طبیعت بپرهیزند و در صورت نیاز قبل از روشن کردن آتش ، اطراف را از خار و خاشاک پاک نموده و پس از استفاده آنرا دوباره به‌طور کامل خاموش کنند. طبق بررسی‌های انجام شده هر باری که در گوشه‌ای از طبیعت آتش روشن می‌شود، در آن قسمت زمین بین ۱۰ تا ۱۵ سال هیچ گیاهی قابل رویش نیست و در مدت زمان طولانی این برای زمین یک فاجعه‌ی بسیار بزرگ به شمار می‌رود. بنابر آن لازم است که به‌منظور حفاظت از جنگلات و درختان تا حد ممکن از روشن کردن آتش در نزدیک این منابع طبیعی جلوگیری کنیم.

**۴- جلوگیری از قطع رویه درختان:** قطع بې رویه درختان متاسفانه در این اواخر مشکلات اساسی را در این حوزه به وجود آورده است. براساس آمار برنامه محیط زیست سازمان ملل (UNEP) قبل از اشغال افغانستان توسط شوری سابق، حدود ۵ درصد کل خاک افغانستان پوشیده از جنگل‌های غیر مثمر بود، یک میلیون هکتار جنگل بلوط و دو میلیون هکتارجنگل کاج و سرو، که بیشتر در مناطق شرقی افغانستان دیده می‌شد.

در کنار آن بر علاوه جنگل‌های غیرمثمر، در یک سوم شمال و شمال-غربی افغانستان جنگل‌های انبوه پسته و بادام ساحات وسیع را تحت پوشش قرار می‌داد.

مناطق تحت پوشش جنگل در ولایت‌های شرقی کنر، نورستان و ننگرهار از سال ۱۹۷۸ تا سال ۲۰۰۲ به نصف کاهش یافته است. بناءً لازم است که برای حفظ این سرمایه طبیعی و احیای دوباره آن گام‌های هماهنگ از سوی مردم و نظام امارت اسلامی برداشته شود.

**۵- آگاهی دهی جوانان و نوجوانان:** یکی از روش‌های حفاظت منابع طبیعی از جمله جنگلات و درختان، بلندبردن سطح‌آگاهی کودکان، نوجوانان و جوانان از طریق فعالیت‌های علمی، فرهنگی و اجتماعی می‌باشد. پس لازم است تا علمای دین و دانشمندان کشور با درک اهمیت موضوع، رسالت اسلامی، انسانی و میهنی شان را اداءنموده، مردم و جوانان کشور را نسبت به این مسایل و تأثیرات منفی آن آگاه سازند تا یک محیط پاک و عاری از آلودگی داشته باشیم.

محققان معتقدند بهترین شیوه نهادینه کردن عادت های مثبت، آموزش از دوران کودکی است. حفاظت از محیط زیست هم عادتی است که باید از کودکی آموخته شود تا به یک باور ذهنی تبدیل شود. این باور کودک را مؤظف می کند تا از یگانه محیطی که در آن زندگی می‌نماید، به بهترین وجه ممکن پاسداری کند.

# فرصتونه او مسؤلیتونه

**د بهرنیو چارو وزیر؛ مولوي امیرخان متقي**

د ۲۰۲۱م کال د اګست ۱۵مې له تحول راهیسې، چې څه باندې یو نیم کال تېرېږي، د افغانستان وضعیت د ټولو هغو منفي تحلیلونو او وېرونکو وړاندوینو پرخلاف چې له تحول مخکې وړاندې کېدل برعکس ډېر مثبت دی. د مذاکراتو پرمهال، د نویمو کلونو ویجاړوونکې کورنۍ جګړې وېروونکې وړاندوینه د دوحې د هوټلونو په لابیګانو کې د اکثرو بهرنیو دیپلوماتانو پر ژبو جاري وه. زموږ مسئولینو پېښو ته له بلې زاویې کتل او ورته مو پر وخت لازمې تیارۍ ونیولې. موږ نه یوازې دا چې پر پلازمېنه او د وطن پر سترو ښارونو واکمن شوو، بلکې د کورنۍ جګړې د کمزورو احتمالونو پر وړاندې مو هم پاخه تدابیر ونیول او د عفوې او ورورګلوۍ په انساني او اسلامي پیغام مو ټولې اندېښنې په عمل کې ځواب کړې.

نن، نه یوازې دا چې جګړه پای ته رسېدلې، بلکې افغانستان په تېرو څه باندې څلورو لسیزو کې په لومړي ځل د یوه خپلواک، واکمن، متحد، مرکزي او مسئول حکومت له خوا اداره کېږي. موږ په دې لنډه موده کې په ګڼو مواردو کې د تېرې دورې د مُهلکې اتکا پر وړاندې هڅې کوو او د افغان ظرفیت‌جوړونې له لارې چارې افغاني کوو. دا پر خپله خاوره زموږ د مالکیت حس لا غښتلی کوي.

موږ پوهېږو، چې اوسمهالې نړۍ کې نړیوالو اړیکو د دولتي او نادولتي لوبغاړو ترمنځ د رغنده تعامل په نتیجه کې ښه پرمختګونه کړي دي. پر دوه اړخیز درناوي او مشترکو ګټو ولاړې اړیکې د وخت اړتیا او د ټولو لوریو د ګټو د خوندیتوب معقوله لار ده. د افغانستان اوسنی حکومت پر همدې ذهنیت نړۍ سره د مثبت تعامل لپاره لاس اوږدوي. موږ فکر کوو چې اوس د افغانستان او نړۍ ترمنځ د مثبتو اړیکو جوړولو بې‌ساري فرصت رامنځ ته شوی دی.

په کور دننه د افغاني ټولنې وحدت تر بل هر وخت زیات پیاوړی شوی او موږ یې پر ځانګړي متنوع جوړښت ویاړو، مونږ د اکثریت او اقلیت پر وېش باور نه لرو، د هیواد هر وګړی د یوه واحد کُل نه بېلېدونکې برخه ده.

شرائط دې ته ډېر ښه اماده دي چې افغانستان د نړۍ د امنیت په برخه کې د خپل مسئولیت ترسره کولو له لارې د نړیوالې ټولنې د یوه مسئول او خپلواک غړي په توګه را پورته شي او نړیواله ټولنه ورته د خپلواکۍ د احترام او پر خپلو پښو درېدلو کې د مرستې له لارې هرکلی وکړي.

له نورې نړۍ سره زمونږ اړیکې به د نورو له خپلمنځي سیالیو څخه مستقلې، متوازنې او د متقابل احترام، متقابلو مشروع ګټو، ګډ ژوند او د سبا جوړولو پر اساس ولاړې وي.

زمونږ د هغو کورنیو مسائلو په برخه کې چې په بیرون کې ناسمې درک شوې؛ په اړه یې باید پوهاوی را مینځ ته شي. د افغانستان د اوسني جوړښت او ارزښتونو په باب باید دقیق درک رامنځ ته شي. زموږ د ټولنې دیني او کلتوري حساسیتونو سره باید په احتیاط تعامل وشي. زموږ نژدې تاریخ ښودلې دلته چې هر نظام تعادل نه دی رامنځ ته کړی له جدي ننګونو سره مخ شوی دی.

مونږ له نورو سره د هر ډول شته یا راتلونکو سوءتفاهمونو د له منځه وړلو لپاره له سیاسي، اقتصادي او امنیتي فشارونو څخه په پاکې فضا کې پر رښتینو خبرو اترو باور لرو. تجربو ثابته کړې چې په افغانستان کې د فشار اپشنونه نتیجه نه ورکوي.

په افغانستان کې شته بشري وضعیت زموږ او د نړۍ ګډه انساني مسئولیت دی. د بشري ناورینونو د تحمیل له لارې د سیاسي اهدافو د تر لاسه کولو هڅه متمدنه او اخلاقي تګلاره نه ده. په افغانستان کې د اقتصادي ستونزې یو اساسي لامل زموږ پر مالي او بانکي نظام د متحده ایالتونو له خوا لګېدلي بندیزونه دي چې زموږ ډېرې ملکي او بشري پروژې یې له خنډ او ځنډ سره مخ کړي دي. د اوسني اقتصادي او بشري وضعیت اساسي حل دا دی، چې د افغانانو پر مالي او بانکي نظام بندیزونه لرې کړل شي او فرصت ورکړل شي چې افغانان پر خپلو ظرفیتونو او ابتکارونو د بشري ستونزو حل راوباسي.

په دې اساس، د امریکا د متحده ایالتونو مسئولیت جوړېږي چې باید د افغان ولس کنګل کړې شتمنۍ ژر تر ژره خوشې او د دوحې تړون په اساس ټول بندیزونه لیري کړي.

پر یوه جګړه‌ځپلي ملت مالي او بانکي بندیزونه به د امریکا لپاره کومه سیاسي او یا ان اخلاقي توجیه ولري؟

غواړو د امریکا حکومت او ملګرو ته یې وریاده کړو، چې اقتصادي بندیزونه او نور فشارونه فاصلې له منځه نشي وړلی، بلکې یوازې اعتماد کولای شي فاصلې راکمې کړي.

افغانستان چې د نظامونو د ناکامۍ او پاشلتیا یو تاریخ دی چې نړیوالو قوتونو او ایتلافونو یې هم د دې دوران مخه ونه نیولای شوه، اوسني نظام د داسې حکومتدارۍ بنیاد ایښی چې د تاریخ دا باطل دوران ودروي. د افغانستان د اوسني حکومت د کمزورۍ کېدو پایله به څه وي، بې له دې چې بشري ناورین وي او هغه هم یو داسې هر اړخیز ناورین چې یوازې تر افغانستانه به محدود نه وي، بلکې ګاونډ، سیمې او نړۍ ته به د امنیت، کډوالۍ، اقتصاد، او روغتیا اړوند نوې ننګونې له ځان سره ولري.

له دلایلو پرته، د افغانستان اقتصاد له تېرو دوو لسیزو راهیسې پر بهرنیو مرستو د اعتیاد تر کچې متکي شوی و. په دغه بحراني وخت کې د افغانستان له خلکو سره په لوړه کچه په هر اړخیزو مرستو کې جدي پاملرنه په کار ده.

زمونږ وړاندیز دا دی چې نړیوالې مرستې په روزګاري فُرصتونو بدلې شي او د پایدار اغېز د رامنځ ته کولو په موخه نیمګړې او نوې دولتي پروژې تمویل شي.

تر څو چې داخلي اقتصاد ژوندی نه شي، د مرستو پیسې لسګونو میلیونونو خلکو ته دوه‌ی نه شي ورکولای. د افغانستان د اقتصاد د ژوندي کولو اړین شرائط لکه امنیت، سیاسي اراده، شفافیت او حساب ور کول د بل هر وخت په پرتله زیات موجود دي. اوس اړتیا ده چې بندیزونه لرې شي تر څو افغانان په خپله د خپلې اقتصادي خودکفایۍ لپاره هڅې وکړي.

د دې تر څنګ، د بین المللي سوداګرۍ، زمونږ د ناسپړلو معدني زېرمو د استخراج او د ملي او بین المللي کچې لویو پروژو د تطبیق پر وړاندې پراته خنډونه له منځه یوړل شي تر څو د هیواد اقتصادي بهیر مو خپل عادي حالت ته راستون شي.

په خپل وار مونږ د دادمن امنیت او سیاسي ارادې له پلوه له هر هیواد سره د ګډو منافعو پر بنسټ شراکت ته چمتو یو.

په خپلو پښو ولاړ افغانستان د هر چا په ګټه دی، او له پښو لوېدلی افغانستان د ټولو په زیان دی.

نړیوالې ټولنې ته په کار دي چې د افغانستان له اسلامي امارت سره سیاسي او اقتصادي اړیکې رامینځ ته کړي، او له افغانستان سره د یوه خپلواک هیواد په توګه چلن پیل کړي. بدیله لار او د تیرو ناکامو تجربو تکرار د هیچا په ګټه نه دی.

اسلامي امارت چې له تیر رژیم او نړیوالو ملګرو څخه یې تش بانکونه، د وارداتي برېښنا د برق بېلونه، مخدره مواد، څلور میلیونه معتادین، اداري فساد، لوږه، بېکاري، په ټپه ولاړ اقتصاد، د کورونا په پلمه بند مکتبونه او نور ډېر مشکلات په میراث ورته پاته شول په تېر یونیم کال کې د پرمختګ ډېر پړاوونه ووهل مثلا:

- امنیتي ځواکونه یې منظم او سرتاسري امنیت یې ټینګ کړ او هیچا ته یې فرصت نه دی ورکړی چې د افغانستان خاوره د نورو په ضد وکاروي.
- مخدره مواد چې ټولې نړۍ ته ضرر و، کښت یې صفر ته را ټیټ کړ که یې څوک نه مني را دې شي، او وضعیت دې له نژدې څخه وارزوي.
- په لومړی ځل یې خپله هغه بودیجه چې اویا سلنه په بهرنۍ مرسته ولاړه وه له خپلو عوایدو چمتو کړه، د اقتصاد بنیادونه یې ملي کړل او سمې لارې ته یې سیخ کړ، د ثبوت په توګه یې د نړیوال بانک ورستی راپور ښه بېلګه ده.
- افغانستان چې د فساد کچې یې نړیوال ریکارډ خپل کړی و، له هغه بد حالت نه یې را وایست د روڼتیا نړیوال سازمان راپور یې ښه دلیل دی.
- هیواد والو ته یې هر لور ته د ازاد سفر هوایي او زمیني تسهیلات برابر کړل چې همدا د نړیوالو غوښتنه هم وه.
- د تېر رژیم پنځه سوه زره مامورین یې له ځان سره په ادارو کې وساتل.

هو داهم منو چې مشکلات او نیمګړتیاوې شته خو حل یې هم وخت، همکاري او امکانات غواړي او لیږ ډېر مشکلات خو د نړۍ په ډېرو هیوادو کې شته چې نورو ورسره زغملې دي.دا به هم منو چې نړیوالې ټولنې په تیرو شلو کلونو کې دلته په لسګونو زره وسلوال ځواکونه راوستي وو، په لوړه کچه تلفات یې ګالل، د لوړې کچې تجهیزات او ټیکنالوژي یې کاروله او په سلګونو ملیارده ډالر یې مصرف کړل ایا کومه مثبته نتیجه یې تر لاسه کړه، اوس یې په تېر یو نیم کال کې له افغانستان سره له بشري مرستو ورهاخوا نور څه کړي دي؟

آیا څوک ویلای شي چې د افغانستان د حکومت د مثبتو اقداماتو په مقابل کې یې د ښه نیت کوم لاس را اوږد کړی؟ او یا یې له تبلیغاتو، اتهاماتو او فشارونو بغیر څه کړي؟

نو دا حقیقت باید ومنو چې له یوه لاس څخه ټک نه خیږي.

# قرآن او معاصر ساینس

**محمد جاوید حنیف**

**آیا نور ( بې ساه ) مخلوق (شیان) خبرې کوي؟**

کله چې داوود (ع) د زبور آیتونه لوستل، نو غرونه، تیږې، بوټي او ژوي به په خبرو راتلل او د هغه وینا به یې یو ډول تکراروله.

آیا تاسې توتي لیدلی؟ لیدلی به مو وي، چې توتي د انسان خبرې زده کوي او په څو وارې یې تکراروي هم، له همدې کبله انسانان توتي ډېر خوښوي.

عالمانو توتي د ټیپ د جوړولو لپاره بیلګه ګرځولې، خو په یوه توپیر:

توتي ویل شوې خبرې په خپل مغز او ټیپ یې په کیسټ (پټه ) کې ثبتوي. د الله (ج) او د انسانانو په جوړونو کې خو ډېر توپیر وي، چې یو ساکښ او بلې بې ساه، خو خبرې دواړه کوي، ډېر وخت شوی، چې له ټیپ څخه ثبتې شوې خبرې اورو او ورسره روږدي شوي یو، د همدې لپاره دا کار مونږ ته نوی شی نه ښکاري، چې ورته حیران شو. که غرونه، تیږې ، ونې ...... د خبرو جوګه شي او زمونږ ویناوې راته بیرته تکرار کړي، څه به مو کول؟ آیا په خپل ځای کې به حیران پاتې نه وو؟

(( دا هیڅ امکان نه لري، دا هیڅ کیدونکې نه ده)) ایا داسې چیغې به مو نه وهلې؟

آیا د ټیپ تر خبرو وروسته له معجزې څخه د انکار کولو کومه لار لرو؟

که چیرې داسې وي، نو ټیپ ، فونوګراف ۱، ګرامافون ۲، راډیو، تلویزون او نور ورته سامانونه به د لومړي ځل لپاره کوم پیغمبر جوړ کړي وي، نه بلکې له قرآن کریم څخه تر الهام اخیستلو عالمان بریالي شول، چې دا شیان جوړ کړي.

هغه شیان چې د هغو کیدل له تصور لرې ګڼو، نور نو بیا د الهی احسان خبرې دي او هغو ته معجزه ویل کیږي او د الله تعالی له لوري هغه یوازې خپلو پیغمبرانو ته ورکول کیږي، په دې هم پوهیږو. ان شاء الله

داوود (ع) له هغو پیغمبرانو څخه دی چې نوم یې په قرآن کریم کې راغلی دی او د الله تعالی په امر غرونه، تیږې، مرغان، بوټي او نور شیان یې تر امر لاندې وو، د زبور تر نازلیدو وروسته به د نوموړي سره د تلاوت تکرار دغو ټولو شیانو ورسره کاوه، د مثال په توګه کله چې به داوود (ع ) د لا اله الا الله ویل، نو هغوی ټولو به ورسره د لا اله الا الله تکرار کاوه.

الله تعالی د نورو موضوعاتو تر څنګ په قرآن کریم کې د دې موضوع په اړه هم غږیدلی، هغه څښتن تعالی، چې ټوله نړۍ یې پیدا کړې، داوود (ع ) ته ډېر فضیلیتونه ورکړي، ښه غږ او ورسره یې نور شیان د هغه تر امر لاندې راوستلې، چې دوی ټولو د پاک رب تسبیح کوله او د خدای عبادت به یې کاوه.

الله تعالی پوهانو ته د داوودع معجزه یوه بیلګه ورکړې، هغو بیلابیلو شیانو ته یې اشاره کړې چې خبرې کولی شي.

انسانانو د تل پاتې حقیقت په لاره کې څیړنې پیل کړې پورتني یادې شوې آلې یا وسیلې یې جوړې کړې.

کمپیوټر د انسان پنځونه ( تخلیق) دی، خو مغز د الله ( ج ) تخلیق دی، انسان د خپل مغز ځانګړنو ته په پام کمپیوټر جوړ کړ، اوسنیو وختونو کې انسانانو ستر ستر روباتونه جوړ کړي چې ټول جوړښت یې د انسان د مغز او د بدن د نورو برخو له جوړښت ته پام کړی دی، ان داسې روباتونه یې جوړ کړي چې هر څه په خپله کنترولوی چې مصنوعي ځیراکت یې بولي.

آیا هغه څوک چې د الله تعالی څخه انکار کوي، ولې له خپل مغز څخه انکار نه کوي؟

که چیرې داسې وي چې انسان وایي (ملحدین ) چې دا هر څه زما خپل تخلیق دی ، نو دی باید په دې هر څه غرور او تکبر ونکړي ، ځکه چې که الله تعالی په قرآن کریم کې د دې هر څه بیلګې نه وای ورکړې، طبیعت او چاپیریال یې له بیلګو او نمونو څخه نه وای ډک ساتلی، بې وزله انسان به د هیڅ شي د موندنو وړتیا نه درلودلای او نه به یې دومره موندنې کړې وای.

# د مسلمانانو په منځ کې د فتنو ډولونه

**نورالحق**

۱ - منفي او د درواغـو تبلیغـات؛ ددې لپـاره چـې پـر مسـلمانانو حقائـق ګـډوډ سي، پـه درواغـو پسې ولاړ سي او د ژونـد پـه ټولـو چـارو کـې د سـتونزو سـره مخامـخ سـي ځینـي فتنـه ګـر خلـګ پـه مسـلمانانو کـې درواغ او باطل نشـروي لکـه د مدینـې منـورې منافقینـو او یهـودو چـې همداسـي کـول.

۲ - د مسـلمانانو پـه مینـځ اختلافاتـو تـه لمـن وهـل؛ کلـه چـې پـه مسـلمانانو کـې د قـوت آثـار ولیـدل سـي او مسـلمانان پـر یـو اسـلامي نظـام بانـدي سـره راټـول سـي پـدې وخـت کـې نـو ځینـي فتنـه ګـر انسـانان کوښـښ کوي چـې په ګڼـو لارو د مسـلمانانو تـر مینـځ اختلافـات پیـدا کـړي او مسـلمانان پـر مختلفـو قومونـو، ډلـو ټپلـو، حزبونـو، ځایونـو، ژبـو او رنګونـو بانـدي وویشـي او یـا پـه مسـلمانانو کـې پـر یـو بـل د بـې ځایـه تهمـت ویلـو کړنـه رواج کـړي لکـه پـه مدینـه منـوره کـې چـې یهـودو د اسـلامي دولـت د جوړېدلـو د ځـرک لیدلـو وروسـته همداسـي کـول او یـا لکـه د اسـلامي خلافتونـو پـه وخـت کـې چـې کفـارو او خوارجـو د اسـلامي خلافـت د نړولـو لپـاره د همـدې تاکتیـک څخـه کار اخیسـتی.

۳ - پـه مسـلمانانو کـې د فحشـاء خپـرول؛ ددې لپـاره چـې د مسـلمانانو څخـه معنـوي او روحـي قـوت ولاړ سـي ځینـي فتنـه ګـر انسـانان کوښـښ کـوي پـه مسـلمانانو کـې د ګڼـو لارو څخـه فحشـاء او بـې حیایـي خپـره کـړي چـې پـدې کار کـې ددوی ډېـر تمرکـز پـر ځوانانـو او ښـځو بانـدي وي.

البتـه د مسـلمانانو پـه مینـځ کـې د کفـارو او فتنـه ګـرو انسـانانو لخـوا د فحشـاء خپرولـو ډېـري لویـې بېلګـې پـه تاریخونـو کـې ثبـت سـویدي چـې تـر ټولـو نـږدې یـې زمـوږ پـه هیـواد افغانسـتان کـې د شـل کلـن اشـغال پـه دوره کـې د اشـغالګرو او ددوی د مزدورانـو لخـوا د فحشـاء لپـاره پـه پیراخـه کچـه کار کـول دي.

۴ - پـه دیـن کـې شـبهات پیـدا کـول؛ ددې لپـاره چـې خلـګ ددیـن څخـه لیـري سـي او یـا مسـلمانانو تـه پـه دیـن کـې شـک پیـدا سـي کفـار او فتنـه ګـر خلـګ تـل پـه مسـلمانانو کـې ددیـن پـه اړه شـبهات پیـدا کـوي او یـو ډول مسـلمانان د اللـه ددیـن پـر لاره د روانېدلـو څخـه راګرځـوي.

۵ - د نظـام پـر مشـرانو او پـر دینـي عالمانو بـې بـاوري؛ ددې لپاره چې مسـلمانان پـه دینـي او سیاسـي برخـو کـې بـې سرپرسـته او بـې مشـرانو پاتـه سـي کفـار او فتنـه ګـر انسـانان ددې کوښـښ کـوي چـې پـر دینـي علمـاو او د حاکـم اسـلامي نظـام پـر مشـرانو د خلګـو بـاور کـم کـړي تـر څـو خلـک هـم پـه دیـن کـې او هـم پـه سیاسـت کـې د تزلـزل سـره مخامـخ سـي او پـه تنیجـه کې پـه فکـري او سیاسـي انحـراف بانـدي اخته سـي.

مسـلمانان بایـد تـل هوښـیار اوسـي او پـه خپـل مینـځ کـې هیـڅ ډول فتنـې تـه د راپورتـه کېدلـو اجـازه ورنکـړي.

# د کرکټ په ډګر کې د افغانستان تاریخي بریا

**راپور پامیر وطنوال**

افغانسـتان کرکـټ ملـي لوبډلـې د ۳ شـل اوریـزو سـیالیو پـه لومـړۍ لوبـه کې د پاکسـتان کرکـټ ملـي لوبډلـې تـه ماتـې ورکړه.

دغـه سـیالي تېـر جمعـه ماښـام د افغانسـتان پـر وخـت ۸:۳۰ دقیقـې په شـارجه لوبغالـي کـې پیـل شـوه، چـې د لوبـې پچـه پاکسـتانی لوبډلـې وګټلـه او د توپ وهنـې پرېکـړه یـې وکړه.

پاکسـتان لوبډلـې پـه شـل اورونـو کـې د ۹ لوبغـاړو پـه سـوځېدو ۹۲ منـډې وکـړې؛ ځکـه هېـڅ تـوپ وهونکـی یـې د افغـان بالرانـو پـه خـلاف ښـه ونـه لوبېـده.

د پاکسـتان لپـاره پـه تـوپ وهنـه کـې تـر ټولـو زیاتـې منـډې جوړونکـي عمـاد وسـیم ۱۸ منـډې صایم ایـوب ۱۸ او طیب طاهـر و چـې ۱۶ ، منډې یـې وکړې.

پـه افغـان تـوپ اچوونکـو کـې د اغېزنـاک لوبغـاړي جایـزه مجیـب الرحمـن تـه ورکـړل شـوه چـې پـه ۴ اورونـو کـې یـې ۲ لوبغـاړي وسـوځول او ۹ منـډې یـې ورکـړې.

محمـد نبـي عېسـی خېـل او فضـل الحـق فاروقـي دوه –دوه لوبغاړي؛ خو راشـد خـان عظمـت عمـرزي او نویـن الحـق بیـا یـو ـ یو لوبغـاړی وسـوځاوه.

د افغانسـتان لپـاره پـه تـوپ وهنـه کـې چـې لوبډلـه یـې لـه سـختو سـتونزو سـره مـخ کـړه ابراهیـم ځـدران ۹ رحمـن اللـه ګربـز ۱۶ ګلبدیـن نایـب بغیر لـه کومې منـډې او کریـم جنـت ۷ منـډې وکړې.

یوازینـي لوبغـاړي محمـد نبـي عیسـی خېـل او نجیـب اللـه ځـدران و چـې لوبه یـې د ۱۸ اوور پـه ۵ بـال د افغانسـتان پـه ګټـه تمامـه کـړه.

دغـه لوبـه کـې محمد نبـي تـر ټولـو زیاتـې ۳۸ او ځـدران ۱۷ ناسـوځېدلې منډې وکړې.

د پاکسـتان لـه لـوري پـه تـوپ اچونـه کـې احسـان اللـه ۲، نسـیم شـاه او عمـاد وسـیم یـو- یـو لوبغـاړی وسـوځاوه.

د دې لوبـې تـر ګټلـو وروسـته افغـان لوبـډل مشـر راشـد خـان وویـل، بالاخـره وتوانېـدل چـې د پاکسـتان کرکـټ لوبډلـې تـه پـه نړیـوال کرکـټ کـې ماتې ورکړ و.

خـان زیاتـه کـړه: «ډېـر خـوښ یـم چـې د سـیریز لومـړۍ لوبـه مـو وګټلـه، هدف مـو همـدا دی چـې دا سـیریز پـه خپـل نـوم کـړو، او دا ویـاړ خپـل وطـن تـه وګټـو.»

دواړه لوبډلـې بـه د دې لوبلړۍ دوهمـه سـیالي د روانـې مـارچ میاشـتې پـه ۲۶ نېټـه پـه همدغـه لوبغالـي کـې ترسـره کـړي.

لـه پاکسـتان کرکـټ لوبډلـې څخـه د دې لوبـې پـه ګټلـو افغـان لوبډلـه د خپلـو هېوادوالـو او مینـه والـو لـه لـوري پـه ټولنیـزو رسـنیو کـې ډېـره سـتایل شـوې.

# روژه د کامیابۍ او برکتونو میاشت ده!

**حماد افغان شیرزاد**



د اللـه تعالـی بندګـي ډېـره اسـانه ده، کـه چیرتـه یـو انسـان وغـواړي چـې اللـه تعالـی یـې د کامیابـۍ پـر لار رهـي کـړي نـو د کـم مشـقت او زحمـت پـه نتیجـه کـې عظیـم رب دغـه انسـان تـه لـوی لـوی اجرونـه ورکـوي، د جنـت مرتبـې یـې لـوړوي، رزق یـې پراخـوي او تـر ټولـو سـتر ځېـز چـې اللـه تعالـی یـې دغـه انسـان تـه وربښـي، هغـه د زړه سـکون، اطمنـان او آرام دی، چـې پـه دنیـا کـې یـې هـر څـوک د ترلاسـه کولـو لپـاره هلـې ځلـې او کوښـښ کـوي، خـو ډېـری خلـګ ترینـه محـروم پاتـې وي.

د اللـه تعالـی یـو لـوی عـادت دا دی چـې انسـان تـه یواځې مواقـع پـه لاس ورکـوي، یـوه بهانـه ورتـه ګـوري تـر څـو انسـان د کامیابـۍ پـر لار لاړ او روان شـي، پـه ډېـر وړوکـي عمـل لـوی اجـر ورکـوي، درجـې یـې بلنـدوي او جنـت تـه یـې داخلـوي، روژه کـې د نفـل ثـواب پـه فرض حسـابېږي، روژه دار تـه یـو ګیـلاس اوبـه، یـا خرمـا او یـا هـم ماښـامی ورکـول دومـره اجـر لـري لکـه دغـه روژه دار تـه یـې چـې اللـه تعالـی ورکـوي، د سـهار نـه تـر ماښـامه لـوږه او تنـده پـه خالـص نیـت.. ایمانـا او احتسـابا سـره تیـرول، د دغـه انسـان د کامیابـۍ، سـعادت، جنـت تـه د دخـول او لـه جهنـم څخـه د نجـات ذریعـه ګرځـي.

د اللـه تعالـی محبـوب پیغمبـر صلـی اللـه علیـه وسـلم فرمایـي: روژه درحمتونـو، برکتونـو، مغفرتونـو اوسـعادت میاشـت ده، پـه روژه کـې د اللـه تعالـی بـې شـمیره رحمتونه راوریـږي، پـر خپلـو بندګانـو فضـل او کـرم کـوي، د جنـت ټولـې دروازې ورتـه پرانیـزي، د دوزخ دروازې ورتـه تـړي، د انسـان تـر ټولـو سرسـخت دښـمن شـیطان هـم پـه دغـه مبارکـه میاشـت کـې تـړل کیـږي، د دې لپـاره چـې انسـان د شـیطان لـه وسوسـو وسـاتل شـي او پـه پـاک/ صـاف نیـت او خالـص زړه سـره د خپـل لـوی رب عبـادت وکـړي.

پـه روژه کـې د انسـان نفـس وړی کیـږي، د لـوږې او تنـدې احسـاس ورتـه کېـږي او بیـا یـې پـه زړه کـې د هغـه غریـب او لاچـار سـره د مرسـتې تلوسـه پیـدا کېـږي چـې لـوږې او تنـدې تیـروي، د روژې یـوه فلسـفه او حکمـت دا هـم دی چـې د انسـان نفـس تزکیـه او صفایـي مومـي، هلتـه چـې انسـان مـوړ وي، خـوراک پسـې خـوراک کـوي نـو عبـادت پـه خـلاص زړه نشـي کـولای، خواهشـات یـې زیاتیـږي؛ خـو د روژې پـه برکـت انسـان لـه ډېـرو خواهشـاتو ایسـاریږي او د خپـل معبـود د بندګـۍ حـق اداء کـولای شـي او پـر همـدې لـوږې او تنـدې اللـه تعالـی دغـه انسان تـه خوښـۍ او لـوی اجرونـه ورکـوي.

روژه د اللـه تعالـی لـه لورې د خصوصـي برکتونـو، رحمتونو او خوښـیو ډکـه او سـتره میاشـت ده، اللـه تعالـی پـه دغـه میاشـت کـې د خپـل هغـه بنـده پـر مـخ چـې د خپـل رب عبـادت کـوي، غیبـت ونـه کـړي، د بـل چـا حـق ونـه خـوري، د نـاوړه او فحـش کارونـو څخـه ځـان وژغـوري د جنتونـو ټولـې دروازې خلاصـوي، د شـیطان لـه وسوسـو یـې بـچ کـوي، د دوزخ دروازې یـې پـر مـخ تـړي او همـدا راز د رسـول اللـه مبـارک هغـه مشـهور حدیـث «کل عمل ابـن آدم یضاعـف، الحسـنة بعشـرامثالها الـی سـبعمائة ضعـفٍ» چـې د بنـده د هـر نیـک عمـل ثـواب دوه چنـده، لـس چنـده او اوه سـوه چنـده ورکـول کیـږي، تـر دې چـې حدیـث قدسـي کـې اللـه عزوجـل فرمایـي چـې روژه زمـا لپـاره ده او د دې اجـر بـه بنـده تـه زه خپلـه ورکـوم.

دا چـې روژه د برکتونـو او رحمتونـو میاشـت ده نـو راځـئ چـې مـوږ او تاسـو هـم لـه دغـه زریـن فرصـت او چانـس څخـه سـالمه اسـتفاده وکـړو، عبـادت پـه کـې وکـړو، د لـوی رب د رضـا لپـاره لـه خپلـو نفسـي خواهشـاتو تېـر شـو، د سـهار نـه تـر ماښـامه د لـوږې او تنـدې تکلیـف عبـث ونـه ګرځـوو؛ بلکـې مثمـر یـې کـړو او د خپـل ځـان لپـاره یـې د دنیـا او اخـرت د سـعادت نتیجـه وګرځـوو.

د روژې د لومـړۍ عشـرې غـوره دعـاء «رب اغفـر وارحـم وانـت خیرالراحمیـن».

# موږ دا وړتیا لرو چې خپل سرنوشت په خپله وټاکو!

**سلطان محمود**

موږ هم انسـانان یوو او د نړۍ پدې خاورینه کره کې د اوسـیدو او ژونـد کولو حق لـرو اوس چې دنیا د پرمختللو تخنیکي وسـایلو پرمټ د یو کلي په شـان ده او پـه دې نړیوال کلي کې د بیلابیلو ژبو، مذاهبو، نژادونو، عقایدو، اقلیمونو او فرهنګونو پیروان هستو ګڼـه لري هیڅوک دا حق نلري چـې د بلې عقیدې، بـل مذهب، بل نژاد، بل ملک، بـل اقلیم او د بل په فرهنګي او کورنیو چـارو نظام جوړونه او قانون کې مداخلـه وکړي افغانانو باربار نړیوالو اسـتعماري او اسـتکباري ځواکونو او اشـغالګروته ثابته کړې چې افغانـان د غلامۍ لـه ژوند سره ناآشـنا او د غلامۍ له ژونده ورته د شـهادت مرګ غوره او بهتردی او د تاریـخ په اوږدو کې هر یرغلګر چې په خپل اقتصاد او جنګي وسـایلو مغرور شـوي او د خپل غرور په نیلي سپاره افغانسـتان ته راغلي له شرموونکی ماتې سره مخ شـوي خوریښـتیا چې کافران عقل نلري که دوي عقل درلودی روسانو به له انګریزانو، او امریکا او ناټو بـه له روسـانو عبرت اخیسـتی وای. زموږ بهرنی سیاسـت او پالیسـې یو د بل په کورنیو چارو کـې د مداخلې نه کولو په بنیـاد ولاړه ده او له نورو هیوادونـو څخه هم ورته هیله لـرو چې د افغانانو په کورنیو چـارو کې دې له مداخلـې ډډه وکړي ځکه په افغانسـتان کې د پردیو یرغلونـو او مداخلو هیڅ پایله نـده لرلې او نه به یې ولري پریږدئ چې افغانان خپل سرنوشـت په خپله وټاکې، له ٤٨ هیوادونو سره جنګ کول او هغـوی ته ماته ورکولی شي ددې توان او وړتیا هم لري چې پخپل ګـران او محبوب هېواد کې د اسـلامي نظام تر چتر لاندې په افغانستان کې د عدالـت پریکړې وکړې او خپل سرنویشـت پخپله وټاکې و من الله توفیق

# د نبوي دور فـــدایان

**لومړی برخه / دادمحمد ناوک**




بې پامه وارخطا غږ یې واورید:

ـ هلـه په ملګری دې قریش راټول دي او وهي یې!

لـه چـون چرا پرتـه یـې پـه منډه د کعبـې شـریفې ځنګ تـه ځـان ورسـاوه، لکـه بـاور چـې یـې نـه راځـي، دا خلـک دومـره زړور شـوي، حتـی پـه رسـول اللـه صلـی اللـه علیـه وسـلم لاس پورتـه کـوي!؟

د بدمعاشـانو پـه منـځ کـې یـې ځـان ور ننویسـت، بـې لـه دې چـې د دوی غـرور، د دوی تصمیـم او د دوی ځـواک پـه نظـر کـې ونیسـي، د رسـول اللـه صلـی اللـه علیـه وسـلم پـه مخکـې ودریـد او دوی تـه یـې وویـل:

ـ یـو څـوک پـه دې خاطـر وهـئ، چـې وایـې رب مـې اللـه دی!؟

قریشـي مشـرانو تـه دا جرئـت تـر انـدازې زیـات ښـکاره شـو، سـره لـه دې چـې د دې روڼ مخـي پاخـه سـړي کورنـی شـرف ور معلـوم او پـر وړانـدې یـې عملـي اقـدام ورتـه سـخت ښـکارېده، خـو بیـا هـم لـه یـوې بلـې خـوا نـاري شـوې:

ـ دی را ونیسئ!

لـه یـوې بلـې خـوا پـرې حملـې شـوې، هـر څـوک د خپـل تـوان مطابـق لاس پـرې پورتـه کـوي، چـا یـې ویښـتانو کـې لاسـونه خښ کـړي، څـوک یـې پـر مـخ پـه پڼـو او سـوکانو وهـي، پـه وینـو ولـړل شـو، بـې هوښـۍ تـه نـږدې شـو، چـې قـوم یـې منځګړیتـوب تـه را ودانګل، پـه زامبیـل کـې یـې تـر کـوره یـوووړ!

مـور یـې د زوی شـلیدلو ویښـتانو، پړسـېدلي پـه وینـو لړلـي مـخ تـه زړه را ډک شـو، خـو ده سـترګې وغړولـې، ټـول پـرې ور ټـول شـول، ښـایي د غـچ، انتقـام او بریـد خبـره بـه کـوي، خـو مبارکـه خولـه یـې وښـوریده:

ـ رسـول الله صلی الله علیه وسلم څنګه دی؟

له یوې بلې خوا پرې غږونه شـول:

ـ هغـه ځـه کـوې، خـو د هغـه لـه لاسـه پـه دې حـال شـوې!

مور یې د ځښـاک څه ور نږدې کړل، ویې ویل:

ـ پـه خـدای چـې رسـول اللـه صلـی اللـه علیـه وسـلم ونـه وینـم، کـه پـه هیـڅ شـي څکـه وکـړم!

مـور یـې حیرانـه ودریـده، نـه پوهېـده چـې لـه چـا یـې پوښـتنه وکـړي، خـو ده ورتـه وویـل:

ـ فاطمې ته ورشـه، فاطمې بنت الخطاب ته!

ښځې ځان ناګاره واچوه:

ـ نـه سـتا زوی پېژنـم، نـه محمـد! صلـی اللـه علیـه وسـلم

ـ زوی مـې په بد حال دی، ته مه ډارېږه!

ـ ماتـه نـه دی معلـوم، خـو کـه غـواړې زوی تـه بـه دې درسـره لاړه شـم!

ورتـه معلومـه شـوه، چـې رسـول اللـه صلـی اللـه علیـه وسـلم پـه دار ارقـم کـې دی، همداسـې ټپـي وضعیـت کـې پـر نـورو تکیـه کـړی، د غـره بېـخ او لـه مکې ګوښـې کـور تـه ور ورسـید، لـه دروازې خلاصېـدو سـره رسـول اللـه صلـی اللـه علیـه وسـلم پـه غېـږ کـې ونیـو!

دا کیـف د داسـې سـودا پـه بـدل کـې بېخـي ارزان و، کـه د مکـې معظمـې غرونـو، تېـږو او دېوالونـو ژبـې لرلـی، پـه دې ننـداره یـې ښـایي ملکوتـي کرېـږو د قریشـي مشـرانو زړونـه درولـي وای!

هو!

د نبـوي دور دا فدایـي سرښـندونکی حضـرت ابوبکـر صدیـق رضـی اللـه عنـه و، چـې تـر ځـان تېـر خـو د خپـل لارښـود تکلیـف یـې تحمـل نـه کـړای شـو.

**رضی الله عنه**

# هغه مشهورې تاریخي پېښې چې په رمضان المبارک کې واقع شوې

**ساجدالله عظمت**

۱ــ د وحي نزول (قران کریم نازلیدل):
الله جل جلاله وایي: ژباړه: د رمضان میاشت هغه ده چې قران کریم په کې نازل شــوی، چــې د خلکو لپاره هدایت او څرګندو نښــو لرونکی، د سمې لارې ښوونکی، د حق او باطل بېلوونکی کتاب دی. (د بقرې سورت ۱۸۵ ایت)
د وحي نزول هغه مهال شــروع شو چې رسول اکرم صلی الله علیه وســلم حراء غار کې و او دا د رمضان میاشــت وه، چې د بعثت لومړی کال، لومړۍ ورځ او اولنۍ شــپېې وې. دا مهال د عیســی علیه الســلام له مېلاده ۶۱۰ کلونه تېر شوي وو.
هو! په حقیقت دا خورا ســتره پېښه ده، په دې سره الله جل جلاله خپل بندګان ونــازول او محمد مصطفی صلی الله علیه وســلم یې د دې عزت او کرامــت لپاره غوره کړ. څو انســانان د الله جل جلاله له عبــادت پرته د نورو څیزونو له عبادته ایســار کړي او نړۍ له کفر و شــرکه پاکه کړي، هماغــه و چــې ۱۳ کاله یې انســانان د اللــه جل جلاله وحدانیت، یووالي او ښــو خویونو ته را وبلل او بیا مدینې منورې ته له اصحابو کرامو سره مهاجر شو.
۲ــ د بدر غزا:
په اســلامي تاریخ کې تر ټولو لومړنۍ غزا ده چې رســول مقبول صلی الله علیه وســلم خپله ونډه په کې اخیســتې ده. دا غزا د هجرت په دوهم کال، د رمضان په ۱۷م تاریخ د مکې له مشــرکانو سره وشــوه، د هغوی یاغي او سرکش مشــر ابوجهل د ۷۰ مشــرکانو په ګډون پــه دې غزا کې ووژل شــو او همدومره نور مشرکان د ۳۱۳ کسیز کمزوري مســلمان لښکر په لاس بندیان شول. د یادولو وړ ده چې د مکه والو د لښکر شمېر ۱۰۰۰ تنه و.
۳ــ د اذان پیل:
مســلمانان چــې په مدینه منــوره کې په ډاډ او امن ســره میشــت شول، د الله جل جلاله عبادت یې اوس ښکاره په جماعت سره ادا کولی شــو؛ خو ستونزه دا وه چې د پنځه وخته لمانځه لپاره د خبرولو مشــخصه طریقه نه وه. رسول اکرم صلی الله علیه وســلم له اصحابو کرامو ســره مشوره وکړه چې ډول ډول وړاندیزونه وشــول، امــا ټاکلي پرېکړه ونشــوه. حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وســلم او اصحاب کرام رضي الله عنهم کورونو ته ســتانه شول، حضــرت عبدالله بن زید رضي الله عنه د شــپې په خوب کې یو ســړی ولیده او ده ته یــې اذان او د هغه کیفیت ور وښود. کله چې سهار شو رسول الله صلی الله علیه وسلم تــه ورغی او څه یې چې لیدلي وو هغه یې ورته وویل.
رســول الله صلی الله علیه وســلم هغه ته وویل: ښېشــکه دا یو حق او ربښــتونی خوب دی. ځه بلال رضي الله عنه سره پاڅېږه تا چې څه اوریدلي هغه بلال(رض) ته ووایه، هغه به په زوره په هغو (کلماتو) سره اذان (اعلان) وکړي.
هو! له هماغې ورځې اذان پیل شــو چې تر اوسه د نړۍ په ټولو مساجدو کې زمزمه کیږي او مسلمانان یې په اوریدو سره د لمنځونو بندوبست کوي. (الحمدلله)
۳ــ د مکې فتح:
له مکې مکرمــې څخه د الله جل جلاله نازولي رســول اللــه صلی الله علیه وســلم د ابوبکر صدیــق رضي الله عنــه په ملتیا پټ هجــرت وکړ، ځکه د مکې مشــرکانو د دوی دواړو په ســر سل اوښــان انعام ټاکلی و. د الله جل جلالــه له لوري په هــر څه کې حکمت نغښــتی وي، له هجرته وروسته د مسلمانانو او مشرکانو ترمنځ څو جګړې وشــوې، د کفر ستر ستر اشــخاص په کې ووژل شو او د شــرک ملا ماته شــوه، نو د حکیم الله عزوجل له حکمته ډکه فیصله راغله چې رســول الله صلی الله علیه وسلم د ابراهیم خلیل الله او اســماعیل ذبیح الله د ودان کړي کور په لوري وخوځېږي او (بیت الله شریف) د شرک او بوتانو له نجاسته پاک کړي.
رســول الله صلی الله علیه وسلم له زرګونو اصحابو کرامو رضــي الله عنم ســره مخ په مکه وخوځېــده او هغه یې د مشــرکانو له شرکه او د بوتانو له لمانځنې څخه پاک کړ. دا ستره پېښــه د هجرت په اتم کال د رمضان په میاشت کې وشــوه، چې له دې وروسته د ابوســفیان رضي الله عنه په ګډون زرګونه کسان په اسلام مشرف شول.
۴ــ د حضرت علي کرم الله وجهه شهادت:
علي کرم الله وجهه د رســول اکرم صلی الله علیه وسلم د ګران تره (ابوطالب) زوی و، چې په ماشومانو کې لومړنی مســلمان و، د رســول الله صلی الله علیه وســلم زوم د فاطمې رضي الله عنها خاوند او د حســن او حسین رضي اللــه عنهما پــلار و، په ټولو غزاګانو کې یــې توره ځلولې وه، په خندق غزا کې یې ســتر مشــرک پهلوان عبد بن ود وواژه او په خیبر کې یې د یهودو غټ اتل مرحب وغځاوه. علــي رضي الله عنه د اســلام څلورم راشــد خلیفه او له خلافتــه مخکې د دریو وارو راشــدو خلیفه ګانو حامي او ملاتړی و.
دا ســتر انســان د هجرت په ۴۰م کال د رمضان په ۱۷مه نېټــه د عبدالرحمن بن ملجم په تــوره چې په زهرو باندې یې لړلې وه، شــهید شــو. دا داســې لحظــه وه چې ده په مســلمانانو د ســهار لمونځ اداء کاوو. د خارجي دښمن له لوري د ټپ خوړلو پر مهال یې دا مشــهوره خبره وکړه: «فزت و رب الکعبة فزت و رب الکعبة...»
ژبــاړه: د کعبې په رب مې دې قســم وي چــې زه بریالی شــوم، د کعبــې په رب لــوړه کوم چې زه خپــل هدف ته ورسېدم.

# روژه د برکتونو میاشت!

**مولوي نورالحق مظهري / لومړۍ برخه**

د رســول اللــه صلي اللــه علیــه وســلم د امــت سره دا د اللــه پــاک لــوی احســان دی چــې دوی تــه یــې د روژې مبارکــه میاشــت ورکړېــده او دا مبارکــه میاشــت لکــه اللــه پــاک چــې پــه قــرآن کــې او رســول اللــه صلــی اللــه علیــه وســلم پــه خپلــو احادیثــو کــې مبارکــه بللــې همــداسي د برکتونــو او ثوابونــو څخــه ډکــه ده، مــوږ بــه پــه نوبــت ددې مبارکــې میاشــتې دډېــر برکتــه ســتاسي شریــک کــړو .
لومړی برکت:
لومړی برکــت ددې میاشــتې دا دی چــې اللــه پــاک دا میاشــته د عظیــم عبــادت روژې لپــاره ځانګــړې کــړې او تــر نــورو میاشــتو یــې ددې رتبــه لــوړه کــړې لکــه اللــه پــاک چــې فرمایــي:
[ البقرة ۱۸۵] ژبــاړ: څــوک چــې ستاســو څخــه میاشــت ووینــي نــو حتــما دې روژة ونیســي.
دا چــې اللــه پــاک دا میاشــت دداسي عظیــم عبــادت لپــاره ځانګــړې کــړه او د دغــه عبــادت وخــت یــې دغــه میاشــت وګرځولــه دا خپلــه لــوی برکــت دی.
نــو مــوږ بایــد ددې میاشــتي قــدر وپېژنــو پــدې میاشــتي کــې د عظیــم عبــادت ترځنــګ نــور عبادتونــه هــم ډېــر وکــړو تــر څــو اللــه پــاک مــو د خپلــو خاصــو بندګانــو څخــه وګرځــوي.
دویم برکت:
بــل برکــت ددې میاشــتي دا دی چــې اللــه پــاک پــدې میاشــتي کــې قــرآن عظیــم الشــان نــازل کــړی دی هغــه قــرآن چــې د انســان د دنیــوي او اخــروي ســعادت لپــاره اســاسي قانــون دی لکــه څنګــه چــې اللــه پــاک فرمایــي:
ژباړه: د روژې میاشــت هغــه میاشــت ده چــې پــه هغــې کــې قــرآن نــازل ســوی دی، هغــه قــرآن چــې د خلګــو لپــاره هدایــت دی او د لاربښــووني او د حــق او باطــل تــر مینــځ د توپیــر کولــو لپــاره نښــې دي.
نــو مــوږ مســلمانان چــې څومــره قــرآن تــه احــترام لــرو، هغــه پــر خپــل ژونــد بانــدي حاکــم بولــو او خپلــه هــره ســتونزه پــر قــرآن بانــدي آواروو؛ د روژې د مبارکــې میاشــتې احــترام هــم بایــد ولــرو او چــې پــه کومــو کارونــو یــې ســمه لمانځنــه او حــق آداینــه کیــږي هماغــه کارونــه وکــړو.
دوام لري...

# د اسلامي تمدن ځلانده ستوری امام حکیم علاء الدین ابن نفیس (رح)

**فرید احمد مبارز**

د اســلام تاریــخ د بــې شــمیره ځلانــده ســتورو څخــه ډک دی چــې د بشریــت د نیکمرغــۍ لپــاره یــې نــه ســتړي کیدونکــي هلــې ځلــې کــړي دي؛ یــو د دغــه ځلانــده شــخصیتونو څخــه ابــن نفیــس (رحمــة اللــه علیــه) دی. نومــوړې عــالم د وخــت څخــه پــه ســمې ګتــې اخیســتنې سره زیــات شــمیر علمــي اثــار لیکلي. ابــن نفیــس (رحمــة اللــه علیــه) چــې اصلــي نــوم یــې امــام حکیــم عــلاء الدیــن ابــن نفیــس بــن حــزم قــرشي دی، پــه ٦١٠ هجــري کــې پــه دمشــق کــې زیږیدلــې او پــه ٦٨٧ هجــري پــه قاهــره کــې وفــات شــوې.
ابــن نفیــس (رحمــة اللــه علیــه) د شــافعي مذهــب یــو د مشــهورو علــماؤو څخــه دی. ابــن نفیــس (رحمــة اللــه علیــه) د اســلامي نــړۍ یــو د ســترو طبیبانــو لــه ډلــې څخــه شــمیرل کیــږي چــې د خپــل وخــت ډیــر ســاتونکی وو، او همیشــه یــې د وخــت څخــه ښــه استفاده کولــه، همــدا علــت وو چــې نومــوړي عــالم پــه طــب کــې ســتر کتابونــه لیــکلي چــې نــن ورځ د ده د تألیفاتــو څخــه پــه طبــي برخــه کــې ګټــه اخیســتل کیــږي.
ابــن نفیــس (رحمــة اللــه علیــه) د طــب پــه برخــه کــې «الشــامل» پــه نــوم کتــاب لیکلــی چــې (۳۰۰) جلــدو تــه رســیږي، همدارنګــه ابــن نفیــس (رحمــة اللــه علیــه) د ســترګو د عــلاج پــه برخــه کــې د «المهــذب» پــه نــوم کتــاب لیکلــی دی، چــې پــه دې کتــاب کــې د ســترګو اړونــد ناروغــۍ او درملنــه یــې ښــودل ســوې. همدارنګــه ابــن نفیــس (رحمــة اللــه علیــه) د لومــړي ځــل لپــاره د وینــې دوران کشــف کــړ.
ابــن نفیــس (رحمــة اللــه علیــه) نــه یــوازې دا چــې د طــب پــه برخــه کــې تألیفــات لــري، بلکــې پــه فقــه، اصــول فقــه، صــرف او نحــوه، منطــق او نــورو برخــو کــې هــم ســلګونه تألیفــات لــري، نومــوړې عــالم د قاهــرې پــه مسروریــه مدرســه کــې اســتاد وو.
ابــن نفیــس (رحمــة اللــه علیــه) واده نــه وو کــړی، خپــل کــور، کتابونــه او شــتمني یــې ټــول منصــوري روغتــون تــه چــې د وخــت یــو د ســترو روغتونونــو څخــه وو، وقــف کــړی وه.
علامــه عبدالفتــاح ابوغــده پــه خپــل کتــاب «العلــماء العــزب الذیــن آثــروا العلــم علــي الــزواج» یعنــي هغــه علــماء چــې نــکاح یــې ونــه کــړه او علــم تــه یــې پــر نــکاح بانــدې غــوره والــی ورکــړ، د ابــن نفیــس (رحمــة اللــه علیــه) نــوم هــم ذکــر کــړی.

## د بلخ طالب ته!

**پوهاند استاذ ناګار**

ای د بلخ طالبه شمس دې مسک د روح په تل کې دی
څرک یې تندریز جــلال د هسکې شملې ول کــې دی
وایــه مــولانــا ته د کــلات د شــیخ مــتي ســلام
ګل د قــربانۍ دې ایښی تــرکــو پــه وربل کــې دی
شــرنګ اخــر د تــورې د نغــمو پــه تقدس واوښت
شــور د شپېلۍ وګــوره سندرو او غــزل کــې دی
شــق به د سپوږمۍ کــړي تجــلا له کــوم ګــرېوان ځنې
دا لیلــة الــقــدر د فـــاتـــح ولـــس ازل کـــې دی
خـــدا که یې بیـــا واورې د اسمـــان لـــه مـــنارو کـــلـــه
کیــف د شومــه دم د تکبیرونو په مـــورچل کـــې دی
فقـــر بـــوذري، غـــږ حیـــدري او بـــلالــي اذان
مست محشري زوږ مو غرو رغونو هر کوتل کې دی
بیا بیـــا را تر غـــاړې د سپېڅـــلي ارمان خـــون نه شي
دا یو ناګار نه دی، ګـــرد امت یې په تکـــل کـــې دی

## رمضان

**فروزي‌پنجشیری**

گویند که اسرار نهان در رمضانست
وندر رمضان خوبی بسیار عیانست
تحقیــق نمــــودیم که این گفته یقینست
چیزیکه عیانست چه حاجت به بیانست
رحمت رسد و مغفرت و ایمنی از نار
وآن را که به حق طالب و از غیر رمانست
جــز راستی و حق نگری کار ندارد
آن کــس که از حق و از باطن آنست
قرآن ز شب قدر خبر داده و آن شب
فرخنده شبی است درین ماه نهاست
آن شب که بــود قــدر میسر شــود اما
آن را کــه حــق و ذکر حقش ورد زبانست
در آن شب قدر است که عالم همه یکسر
در راحت و آرامی و در امن و امانست
بـــا تـــزکیــهٔ نفـس بپـــرداز و قـــناعت
و ز حرص و طمع دور شو آن کار ددانست
با دست و دهان گر نکنی کار خود آباد
ویرانی کار تو هم از دست و دهانست
با لهــو میــامیز که از لهــو و دو رویی
بسیار ترا زحــمت و ادبــار و زیانست
بگذار تبه کاری بسیار که دیدیم
خوبی و بدی ماند و دنیا گذرانست
آن را که نه تـــقوا بود و زهـــد و ریاضت
بی رامــش خــــاطر بود و دل نگرانست
از جنگ بجز بار غم و فتنه نخیزد
این بار غم و فتنه درین کره وزانست
راحت نه ز خود خواهی و عجبست و تکبر
نیکی نه جز از خدمت و کار دگرانست
نیکی کن و در آب بینداز که گویند
در بادیه روز دگر آن پیش تو نانست
آدم نه همــــین کالبد و پیکر خاکیست
وآن گوهر اصلی که بود جان و روانست
اندیشه ء بد دور کن از سر که درین ره
بد کار بهر دره و در خوار و نوانست
گر شعر فروزی ز روانیست دل انگیز
این خاصیت و قاعده شعر روانست

## مؤمن بت تراش!

**محمد صادق طارق**

از آن صــوفی کــه دل را مــی‌خــراشــد
و آن مــؤمــن که بـــت را می‌تـراشـــد
چـــرا نالم که خویش همــچــنان است
نه او را هیچ گداز در جســم و جان اســت
اگـــر او را به دل صـــدق و یقــین است
دلــش خالی ز نفرت، بغض و کین اســت
اگـــر دانــد ثــواب و نـــاثــوابـــش
حاصـلِ روئیده از خــوب و خــرابش
چــرا درِ نیــمه‌شب او را نــه راز اســت
نه از صوتی که آیــد هیــچ گـــداز است
نه در خاک وجودش هــیچ شــرر است
نه او را از جهــانش هیچ خـــبر اســت!
خـــدا داند که او را تـــاب و تب نیست
طـــارقا هیچ ناله‌ی در نیمه‌شـــب نیست

# فواید مصرف خرما در ماه مبارک رمضان



قرار دادن خرما در برنامه‌ی غذایی در طول ماه مبارک رمضان فواید بسیار زیادی برای سلامتی شما دارد.

خرما میوه‌ای است که به طور سنتی در منطقه‌ی خاورمیانه و مخصوصاً در ماه رمضان بیشتر استفاده می‌شود و پس از چند ساعت روزه‌داری از بهترین گزینه‌ها برای افطار کردن است.

خرما خیلی سالم و مقوی است و قرار دادن آن در برنامه‌ی غذایی در طول ماه مبارک رمضان فواید بسیار زیادی برای سلامتی شما دارد که در ادامه به برخی از آن‌ها اشاره می‌کنیم:

۱- غنی از آنتی‌اکسیدان‌ها

از بهترین مزایای سلامتی خرماه می‌توان به وجود آنتی‌اکسیدان‌های مختلف در آن‌ها اشاره کرد:

فلاوونوئیدها:که باعث کاهش التهاب می‌شوند و فواید بالقوه‌ای برای بیماری‌هایی چون سرطان، آلزایمر و دیابت دارند.

کاروتنوئیدها:که سلامت قلب را بهبود می‌بخشند و برای کاهش مشکلات مرتبط با چشم شناخته شده‌اند.

اسید فنولیک:که دارای خواص ضدالتهابی است و می‌تواند در کاهش خطر ابتلا به سرطان و بیماری‌های قلبی کمک کند.

۲- ارتقای سلامت مغز

طبق مطالعات انجام شده، خرما به کاهش نشانگرهای التهابی مثل اینترلوکین ٦ کمک می‌کند. اینترلوکین ٦ با خطر بیماری‌های مغزی مانند آلزایمر همراه است. ترکیبات غنی از آنتی‌اکسیدان‌ها در بهبود عملکرد و سلامت مغز بسیار مفید هستند. آنتی‌اکسیدان‌هایی که التهاب را از بدن دور می‌کنند به کاهش خطر بیماری‌ها کمک می‌کنند.

خرما دارای قندهای طبیعی مانند گلوکز، ساکارز و فروکتوز است که مصرف ۲ تا ۳ عدد از آن با یک لیوان آب گرم هنگام افطار موجب سرحال شدنتان پس از حدود نیم ساعت می‌شود و به تقویت انرژی در شما کمک می‌کند

۳- شیرین کننده طبیعی

خرماها غنی از فیبر، آنتی‌اکسیدان و دیگر مواد مغذی هستند و همچنین طعم طبیعی شیرینی دارند. شما می‌توانید در دستورالعمل‌های چند دسر مختلف به جای شکر، خرما را جایگزین کنید تا آن‌ها را سالم‌تر کنید؛ چرا که شکر می‌تواند باعث ایجاد برخی از اثرات نامطلوب بر بدن شود: از ایجاد خواب‌آلودگی گرفته تا افزایش قند خون در افراد دیابتی. خرماها یک راه عالی برای مدیریت این مشکلات هستند.

٤- غنی از فیبر

خرماها غنی از فیبر هستند؛ بنابراین می‌توانند در کاهش وزن، کنترل دیابت و ایجاد احساس سیری در شما، مخصوصاً در طول روزه‌داری، بسیار مفید باشند. فیبر هضم غذا را کند می‌کند و باعث می‌شود تا مدت زمان بیشتری احساس پُری کنید. فیبر همچنین سرعت آزاد شدن قند به خون را پایین می‌آورد که موجب آسان‌تر شدن کنترل قند خون در افراد مبتلا به دیابت می‌شود.

٥- بهبود سلامت استخوان و دندان‌ها

خرماها بسیار غنی از مواد مغذی هستند و حاوی مواد معدنی مختلفی چون فسفر، کلسیم، منیزیم و پتاسیم می‌باشند. همه این‌ها برای ارتقای سلامت استخوان و دندان‌ها بسیار مفید هستند. سلامت استخوان و دندان‌ها می‌توانند سلامت دهان را تأمین کنند و همچنین از شرایطی مانند پوکی استخوان جلوگیری کنند.

٦- افزایش انرژی

همان‌طور که در بالا اشاره شد خرما دارای قندهای طبیعی مانند گلوکز، ساکارز و فروکتوز است که مصرف ۲ تا ۳ عدد از آن با یک لیوان آب گرم هنگام افطار موجب سرحال شدنتان پس از حدود نیم ساعت می‌شود و به تقویت انرژی در شما کمک می‌کند. علاوه بر این خرما حاوی مقدار قابل توجهی ویتامین ب ٦ و آهن است که مصرف آن باعث رفع خستگی پس از یک روز روزه‌داری می‌شود.

٧- خداحافظی با آلرژی‌ها

معمولاً تابستان زمانی است که ما با انواع مختلف آلرژی روبرو می‌شویم. خرماها حاوی گوگرد آلی هستند که به کاهش واکنش‌های آلرژیک و آلرژی‌های فصلی کمک می‌کنند. مصرف روزانه ۲ تا ۳ عدد از این میوه می‌تواند این آلرژی‌های فصلی را دور نگه دارد.

٨- شادابی و جوانی پوست

با شروع تابستان و همچنین روزه‌داری بسیاری از مردم از آکنه، پوست ناهموار و سایر مشکلات پوستی شکایت دارند. ویتامین‌های C و D موجود در خرما، پوست شما را نرم نگه داشته و به حفظ الاستیته‌ی آن کمک می‌کند. علاوه بر این خرماها مانع تجمع ملانین در بدن شما می‌شوند. ٩- ریزش مو

در تابستان زنان از ریزش مو بیشتر رنج می‌برند به این دلیل که پوست سر سبوم بیشتری تولید می‌کند. خرماها برای موهای شما عالی هستند. مصرف روزانه دو تا سه خرما، فولیکول‌های مو را تقویت و تارهای مو را قوی‌تر و سالم‌تر می‌کند. ویتامین B موجود در خرما برای موهای شما مفید است و کمبود این ویتامین می‌تواند به موهای ضعیف و شکننده منجر شود. کم‌خونی یکی دیگر از علل ریزش مو، به ویژه در زنان است. خرما حاوی آهن است؛ بنابراین، مصرف آن یک روش طبیعی برای درمان مشکلات ریزش مو است.

١٠- سلامت قلب و عروق

مطالعات نشان می‌دهد که خرما تری‌گلیسیرید خون را کاهش می‌دهد و به کیفیت کلسترول خون کمک می‌کند. خرما رادیکال‌های آزاد اکسیژن مضر را از بدن دفع می‌کند که منجر به کاهش خطر حملات قلبی، سکته مغزی و بیماری‌های قلبی عروقی می‌شود. خرما همچنین سرشار از مواد مغذی مانند منیزیم و پتاسیم است که به کاهش فشارخون کمک می‌کند.

١١- خواص ضدالتهابی

خرما غنی از منیزیم است؛ یک ماده‌ی مغذی که دارای خواص ضدالتهابی می‌باشد. مصرف خرما به کاهش التهاب در دیواره‌های شریانی کمک می‌کند و می‌تواند خطر ابتلا به آرتروز، بیماری آلزایمر و سایر بیماری‌های التهابی را کاهش دهد.

# فارغان اداره تعلیمات تخنیکی و مسلکی...

تحصیلات عالی طی سخنانی ضمن اشاره به مسؤولیت‌های رهبران نظام اسلامی و روابط نیک میان ادارات مختلف، آغاز سال تعلیمی ۱٤۰۲ اداره تعلیمات تخنیکی و مسلکی را تبریک گفت.

وی گفت وزارت تحصیلات عالی، وزارت معارف و اداره تعلیمات تخنیکی و مسلکی در راستای عرضه خدمت بهتر و خوبتر و تقدیم افراد شایسته به جامعه روابط کاری نیک دارند.

سرپرست زوارت تحصیلات عالی، اداره تعلیمات تخنیکی و مسلکی را یک اداره مهم خوانده گفت که وزارت تحصیلات عالی با این اداره در بخش‌های گوناگون به ویژه جذب فارغان این اداره در دیپارتمنت‌های مختلف نهادهای تحصیلی کشور همکاری نزدیک دارد که به ادامه این همکاری‌ها چندی قبل با امضاء تفاهمنامه‌ی با این اداره فارغان اداره متذکره منبعد می‌توانند بدون یک سال تنزیل و با کاهش فیصدی نمرات از ۸۰ فیصد به ۷۵ فیصد شامل پوهنتون‌های کشور گردند.

به گفتهٔ سرپرست وزارت تحصیلات عالی کار روی هماهنگی نصاب این داره با نصاب تحصیلات عالی نیز جریان دارد تا فارغان اداره تعلیمات تخنیکی و مسلکی بدون مشکل تحصیلات عالی شان را ادامه دهند.

سپس مولوی غلام حیدر شهامت رئیس عمومی اداره تعلیمات تخنیکی و مسلکی در رابطه به اهداف، فعالیت ها، دست آوردها و چالش های فرا راه این اداره صحبت نمود.

وی گفت که با روی کار آمدن امارت اسلامی در کشور فساد و کاغذ پرانی‌ها از ادارات کشور منجلمه اداره تعلیمات تخنیکی و مسلکی برچیده شد و به جای آن را افراد صادق برای خدمتگزاری گماشته شدند.

وی همچنان گفت که ما روی معیاری سازی نصاب تحصیلی خویش نیز کار می‌نماییم و در بخش تربیه افراد مسلکی نیز برنامه‌های خوبی روی دست داریم.

مراسم با نواختن زنگ به رسم آغاز سال تعلیمی از سوی مسؤولان این اداره خاتمه یافت.

# افغان اعلانات

**اعلان تدارکات**

عنوان پروژه: امور ساختمان سرک بادام باغ از چهاراهی لیسه نادریه الی چهاراهی سرای شمالی به طول (۳۲۸۹) متر واقع ناحیه چهارم و هفدهم دارایی شماره داوطلبی: NCB/۰۳۷-W/۱٤۰۱/NPA/KM

ریاست تدارکات ملی ریاست عمومی اداره امور ا.ا.ا به نمایندگی شاروالی کابل از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در پروسه داوطلبی پروژه: امور ساختمان سرک بادام باغ از چهاراهی لیسه نادریه الی چهاراهی سرای شمالی به طول (۳۲۸۹) متر واقع ناحیه چهارم و هفدهم دارایی شماره داوطلبی: NCB/۰۳۷-W/۱٤۰۱/NPA/KM اشتراک نموده و سافت کاپی شرطنامه را از ویب سایت ریاست عمومی اداره امور {https://aop.gov. af/dr/access_to_information/administrative} بدست آورده، آفرهای خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه و طبق قانون و طرزالعمل تدارکات طور سربسته از تاریخ نشر اعلان الی ساعت ۱۰:۰۰ ق.ظ مورخ ۳۰ حمل ۱٤۰۲ به آمریت انسجام، توحید و تحلیل پلان های تدارکاتی ریاست تدارکات ملی، جوار قصر مرمرین ریاست عمومی اداره امور ا.ا.ا واقع پشتونستان وات، کابل - افغانستان ارایه نمایند. آفرهای ناوقت رسیده و انترنتی قابل پذیرش نمی باشد.

داوطلبان که شرطنامه را بدست می آورند، معلومات شرکت خویش را به منظور دریافت بموقع تعدیلات شرطنامه در صورت لزوم به ایمیل های npd.planning@aop.gov.af | noorullah.naiel@aop.gov.af و planningnpa@gmail.com ارسال نموده و در وقت ضرورت به شماره ۰۲۰۲۱٤۳۲۷٤ تماس گرفته حل مطلب نمایند.

تضمین آفر بصورت ضمانت بانکی به مبلغ ۳,٥۰۰,۰۰۰ سه میلیون پنج صد هزار افغانی می باشد. جلسه قبل از داوطلبی به ساعت ۱۰:۰۰ ق.ظ مورخ ١٤ حمل ۱٤۰۲ و جلسه آفرگشایی به ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر بتاریخ ۳۰ حمل ۱٤۰۲ در آمریت انسجام، توحید و تحلیل پلان های تدارکاتی ریاست تدارکات ملی، جوار قصر مرمرین ریاست عمومی اداره امور ا.ا.ا واقع پشتونستان وات، کابل - افغانستان تدویر می یابد.

***

**دعوت به داوطلبی**

نام پروژه : ترمیم سایبان وسایط هلمند برشنا .

د افغانستان برشنا شرکت از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در پروسه داوطلبی(ترمیم سایبان وسایط هلمند برشنا) دارای کود نمبر ۰۱٤Rebid-NCB/W/۱٤۰۱/DABS- اشتراک نموده و نقل شرطنامه را به شکل سافت در حافظه یا فلش دسک از مدیریت قرارداد های ساختمان بدست آورده ،آفر های خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه و طبق قانون و طرزالعمل تدارکات طور سر بسته از تاریخ نشر اعلان الی ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر روز یک شنبه تاریخ ۲۷/ ۰۱ /۱٤۰۲ به ریاست تهیه و تدارکات دافغانستان برشنا شرکت واقع دهمزنگ شهر کابل ارایه نمایند ، آفر های ناوقت رسیده و انترنیتی قابل پزیرش نمیباشد .

۱-تضمین آفر : مبلغ۰۰۰،٦۰ شصت هزار افغانی میباشد.

۲ - جلسه قبل از افر گشائی: روز چهارشنبه ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر مورخ ۲۳/ ۰۱ /۱٤۰۲ برگزار میگردد.

۳- آفر گشایی: جلسه آفر گشائی روز یکشنبه ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر مورخ ۲۷/ ۰۱ /۱٤۰۲ برگزار میگردد.

٤-آدرس و محل آفر گشایی : منزل ششم اطاق کنفرانس ریاست تهیه و تدارکات.

٥- آدرس اداره : د افغاستان برشنا شرکت واقع دهمزنگ ناحیه سوم شهر کابل.

برای معلومات بیشتر به شماره ذیل تماس گیرید.

شماره تماس: ۰۲۰۲٥۱۳٦۷۷

آدرس الکترونیکی : Asadullah.pacha@dabs.af

# یک شبکۀ آبرسانی به هزینۀ ۱۵ میلیون افغانی در فراه به بهره برداری سپرده شد

شریعت: یک شبکه‌ی آبرسانی در شهر فراه به بهره‌برداری سپرده شد، با ساخت این شبکه‌ی آبرسانی، صدها خانواده به آب نوشیدنی صحی دسترسی پیدا نمودند.این شبکه‌ی آبرسانی به هزینۀ بیش از پانزده میلیون و دوصدهزار افغانی به حمایت مالی صندوق حمایت از کودکان سازمان ملل وهمچنان موسسه «داکار» در مدت یازده ماه ساخته شده است.
با ساخت این شبکه، نزدیک به پنج صد خانواده به آب نوشیدنی صحی دست یافتند.



## نړیوال دې اسلامي امارت سره...

وواېي. هغـه زیاته کړې، کـه لوېدیـځ هېوادونه پر اسـلامي امارت اغېز راوسـتل غواړي؛ نو له اوسنی حکومـت سره دې پـه اړیکو کـې اوسي، له هغوی سره دې تعامل وکړي. عمران خان نړۍ ته سپارښـتنه کړې چې له اسـلامي امـارت سره تعامل زیات کړي چې د ده پـه وینا بیا به د دوی خبره ومني.

## د قوش‌تېپې کانال د لومړي فاز...

۱۰۸ کیلو متره دی بشپړ شي. د دې پروژې مسوولین زیاتوي، د لومړي فاز لپاره له څلورو زرو ډول-ډول ماشینونونه هم استفاده کېږي.
د اقتصادي چارو ځینې شـنونکي وایي، د قـوش تېپې کانال د جوړولو لپاره د سرپرسـت حکومت دغه اقدام د اوبو د مدیریت د پراختیا او په کرنه کې ترې د اسـتفادې پـه برخو کې یوه مثبته چاره ده. د ازبکسـتان یوه پلاوی چې د بیلابیلو موضوعګانو په تـړاو د خبرو لپاره کابل ته راغلی وو، د رییس الوزرا له اقتصادي مرستیال سره په کتنه کې د قوش‌تېپې کانال د معیاري تطبیق لپاره د خپل هېواد له همکاریو ډاډ ورکړی دی.

## پنځو هېوادونو د نورستان د لیتیمو کانونو...

د هېواد په اقتصادي پرمختګ کې مثبت بدلون راشـي.
د اسـلامي امـارت د چاروا‌کـو پـه وینـا جاپـان، چین، امریـکا، قطـر او متحـده عربي امـارت د هغـو هېوادونه لــه ډلې دي چــې په نورســتان کــې یــې د لیتیمــو کانونو د اســتخراج پــه برخــه کــې پانګونې تــه لېوالتیا ښــودلې ده.

## افغانستان کې د امریکایي زندانیانو...

چارو وزیر انتوني بلېنکن له قوله راپور ورکړی و، چې لا هم څو امریکایي وګړي د اسـلامي امارت په بند کې دي او دوی یې د خلاصولو هڅه کوي.

## د هرات د احصایې ریاست...

فعالو مرکزونو کې ۳۲ زره پېژندپاڼې وېشي، چې له درکه یې ۹۰ میلیونه افغاني عواید ترلاسه کېږي.
هدایت زیاته کړه، چې تېر کال یې د نورو ولایتونو د احصائیې او معلوماتو ریاستونو په پرتله زیات عواید راټول کړي دي. هغــه وویــل، چــې پــه دغــه ولایــت کــې ورځ تربلــې د برېښــنایي پېژندپاڼــو د وېــش غوښــتونکي زیاتېــږي او هــره ورځ پــه زرګونــه کســانو د پېژندپاڼــو مرکزونــه تــه مراجعه کوي.

## د افغانستان بانک نوي سرپرست...

تائب وویل چې د افغانســتان اســلامي امارت د چارواکو په مسـئولیتونو کې بدلونونه یو اصل دی چې د اسـلامي امارت مشــرتابه دغه بدلونونه د ملي مصلحتونــو او د ولس د خیر او فلاح په موخه په پام کې نیسي.
تائب، د بدري د غوره کارنامو په یادولو سـره، هغه د افغانستان اسلامي امارت د متبارزو شخصیتونو له جملې څخه وباله.
د چــارو اداري سرپرســت، د افغانســتان بانک لــه مخکېني سرپرســت حاجي ادریس څخه هم مننه وکــړه او د افغانۍ د ثبات او د بانکي ســکتور د اغېزناک مدیریت په برخه کې یې د هغه هڅې وستایلې.
دغه راز د افغانســتان بانک نوي سرپرســت وویل: موږ د هغو اوامرو او لارښــوونو درناوی کوو چې د افغانســتان اســلامي امارت له خوا موږ ته ســپارل کېږي او راســپارل شوې دندې د وطنپالنې او عامه رفاه د اصل په پام کې نیولو ســره ترســره کوو او د هر کار په ترســره کولو کې، الله (ج) شاهد او حاضر ګڼو.
بدري څرګنــده کړه: د افغانســتان بانک د مســلکي او ځوانو کارکوونکــو په همــکارۍ او تجربې بــه، د پولي سیاســتونو د اغېزنــاک تطبیــق، د بانکي ســکتور د لا ټینګښــت، د نړۍ له هېوادونو ســره د بانکي ســکتور د مراوداتو د ښــه والي او د اسعاري زېرمو د آزادولو لپاره اغېزناکې هڅې ترسره کړو.
د غونډې په پای کې، د افغانستان بانک مخکېني سرپرست، د دغه بانک نوي سرپرســت ته په چارو کې د بریالیتوب د هیلې تر څنګ، هغه د خلکو خدمتګار او پرهېزګاره شــخصیت وباله او د افغانســتان بانک له همکارانو یې وغوښــتل چې د یوه ښه همکار په توګه دې له نوموړي سره کار وکړي.
د یادونــې وړ ده چــې د مالیــې وزارت مخکېني سرپرســت ملا هدایــت الله بدري، چې په دغو وروســتیو کې د عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ‌الحدیث و التفسیر مولوي هبة‌الله آخندزاده (حفظه‌اللــه) د فرمان پر بنســټ، د افغانســتان بانک د نوي سرپرســت په توګه ټاکل شــوی و؛ پرون یې په رســمي توګه خپله دنده پیل کړه.

## سمنګانو کې د پېژندپاڼو د وېش له...

حبیب الرحمن وقاص وایي، چې په دې ولایت کې د برېښنایي پېژندپاڼو د وېش د دوو فعالو څانګو او په ولسوالیو کې د کاغذي پېژندپاڼــو په وېش څانګو کې نارینه او ښــځینه غوښــتونکو ته خدمتونه وړاندې کېږي.
وقاص زیاتــوي، چې د یاد ولایت د برېښــنایي پېژندپاڼو وېش څانګې په ټوله کې ۴۹ نارینه او ۹ ښځینه کارکونکي لري، چې په ورځني ډول د ۲۰۰ تنو د بایومتریک معلومات ثبتوي او همدې شمېر نورو غوښتونکو ته برېښنایي پېژندپاڼې وېشي.
د نومــوړي په وینــا، د نویو پېژندپاڼو پر وېش ســربېره له وېش وروســته مثنی پېژندپاڼې، د زېږونونــو او ودونو د ثبت خدمتونه هم وړاندې کېږي.

## د تاجکستان په بدخشان کې د افغان...

د یادونې وړ ده، چې په خاروخ کې د افغانســتان قونسلګرۍ ودانۍ د وروســتۍ واوري ښویېدنې له امله زیانمنه شوې وه.

# بازداشت ۶ به اتهام جرایم مختلف از کابل



شــریعت: پولیس حوزه هفتم شهر کابل، شــش تن در پیوند به قتل، سرقت و اخلال نظم عامه بازداشت نمود.
دفترمطبوعاتی قوماندانی امنیه کابل روز گذشته با نشر این خبر گفت: کــه از این میان یک تن در پیوند به قتل، ســه تن به اتهام اخلال نظم عامه و دو تن دیگر به اتهام سرقت مبایل گرفتار شده اند.

## کرکټ بورډ:
## غوره لوبغاړو ته له افغاني لاجوردو جوړې جایزې ورکوو

د افغانســتان او پاکســتان ترمنځ د روانو درې نړیوالو شــل اوریزو سیالیو د غوره لوبغاړو جایزې د افغانستان د لاجوردو څخه جوړې شــوې دي، لاجورد هغــه قیمتي ډبره ده چې د زرګونــه کلونو لپاره د افغانســتان په غرونو کې پاتې شــوې ده او د ځواک، مبارزې او ځیرکتیــا بېلګه ګڼل کېږي. د افغانســتان کرکټ بــورډ ویلي، چط دا بې ســارې جایزې به د افغانســتان د بډایــه کلتوري میراث او د لوبغاړو د وړتیا او ژمنتیا د بېلګې په توګه په روانو ســترو او تاریخي ســیالیو کې غوره لوبغاړو تــه ورکول کېږي. یــاده دې وي چې له پاکســتان سره د تیرې شپې لوبې غوره لوبغاړی محمد نبي شو چې ۳۹ ناسـوځېدلې منډې یې جوړې کړې او د لاجوردو جوړه شوې جایزه ورته ډالۍ شوه.

## هېواد کې وروستیو اورښتونو ۱۰ کسانو...

په هېواد کې د وروســتۍ زلزلې پر مهال د مړو شــمېر ۱۰ کســانو ته لوړ شوی او شــاوخوا ۶۰ نور ټپیان شوي دي. رحیمي وایي، د وري د لومړۍ نېټې په زلزله کې څه باندې ۸۰۰ کورونه په نیمه او بشــپړ ډول نړېدلي دي.

## بهای مواد اولیه ...

تا از احتکار و فروش مواد اولیه به قیمت بلند خودداری نمایند، در غیر آن با برخورد قانونی روبرو خواهند شد.
همچنان مســوولان تاکید کرد که نرخنامه های ترتیب شده در چشم دید مشتریان نصب گردد.
کمیســیون مذکور بل فروشــات دوکانداران را نیز به بررسی و نظارت گرفت که شــماری از دوکاندارن تادیب گردیدند تا در آینده خلاف ورزی نه نمایند.
اکنون مــواد خوراکی بدون انحصار و محدودیــت در بازارها موجود بوده و عموم مــردم می‌توانند، ضروریات خویش را به قیمت مناسب خریداری نمایند.
نرخنامه‌های مواد اولیه نظر به وضعیت اقتصادی بازار از ســوی ادارات مختلف ترتیب می‌شود و از تطبیق آن مسوولان شاروالی کابل نظارت و بررسی می‌نمایند.

## بلخ کې تېر کال ۱۱۵ لویې او وړې...

۱۱۵ لویې او وړې پروژې بشپړې او ګټې اخیستنې ته سپارل شوې دي.
ابو ادریس زیاته کړه، چې دغــه راز په تېر کال کې ۱۴ میلیاره افغانۍ عواید هم راټول او د دولت خزانې ته سپارل شوې دي.
نوموړي وویل، چې تېر کال په اقتصاد، طبیعي پېښو پر وړاندې مبــارزې او کډوالو چارو ریاســتونو له لوري د مرســتندویه بنسټونو په مالي ملاتړ له زرګونو اړمنو کورنیو سره د خوراکي، غیر خوراکي توکو او نغدي مرســتې شوي او اوسمهال هم په دغه ولایت کې مرســتندویه موسســې په نورمال ډول فعالیت کوي.
د ابــو ادریس په خبره، بلــخ کې ټولې تعلیمــي او تحصیلي اداري پــه نورمــال ډول فعالیت کــوي او د زده کوونکو د زده کړې په برخه کې هېڅ ډول ستونزه نشته.
هغه زیاته کړه، چې سږ کال به هم د دغه ولایت په بېلابېلو سیمو کــې د ټولګټو پروژو، روغتیا او نورو برخو کې د پام وړ چارې ترسره شي.

## برگشت ده‌ها کودک پس از درمان...

از درمان به کابل بازگشتند.
این کودکان به ســوختگی شدید و بیماری میکروب استخوان مصاب بودند که در ســال گذشــته، جهت تــداوی به آلمان فرستاده شده بودند.
مولوی مطیع الحق خالــص رئیس هلال احمر افغانی از بنیاد خیریه آلمان تشــکری نمود که زمینۀ تــداوی این کودکان را مساعد کرده است.
او از خانواده‌هایی که کودکان شــان در آلمان تداوی شده‌اند، خواســت در مراقبــت از کودکان شــان توجه جدی داشــته باشند.

## د نوې طرحې له مخې به کورني او له بهر څخه...

د خپل ســفر موخه د ولایت مقــام، کډوالو او بېرته راســتنېدونکو چارو ریاست او ولس ســتونزې، اړتیاوې او ننګونې له نږدې څېړل وبلل.
نوموړي وویل: د دغه ولایت وګړي د وروســتۍ وچکالۍ او ســړې ځپې له کبله، له ســختو ستونزو ســره مخ دي او یادو ستونزو ته په کتو ســره غواړو، چې د وچکالۍ او نورو ستونزو د له منځه وړلو په برخه کې د خیریه بنســټونو او نړیوالو مرستندویه موسسو پام راواړو او ژر تر ژره ورته بېړنۍ مرســتې چمتو او ووېشو.

## لیلام ۱۵ میلیون دالر برای تقویت...

لیــلام مکلف‌اند که پول ذمت خویش را یک‌مرتبه به طور نقدی در مدت زمان معینه تحویل د افغانســتان بانک، کنند.
چهارشــنبه گذشــته نیز د افغانســتان بانک، برای تقویت بیشــتر ارزش پول افغانی، ۱۵ میلیون دالر را به طور لیلام به فروش رسانده بود.

## تېره اونۍ د اوسپنې پټلۍ له لارې څه باندې...

ټنه توکي لېږدول شــوي دي. په یاد توکو کې ۹۲۳۶ زره ټنه توکي صادر شــوي، چې لویه برخه یې د انارو جوس دي. د افغانســتان د اوســپنې پټلــۍ ملــي اداره وایي دوی د هــرې ورځې په تېرېــدو د خپلو چارو د لا پراختیا او ښــه والي لپــاره هڅه کوي او موخه یــې دا ده چې د هېواد سوداګرو ته ټول اړین امکانات برابر کړي او معیاري چوپړتیاوې وړاندې کړي.

## هلمند کې د انجې کرکېلې ډېرولو هڅې...

په هلمند کې په تحقیقي ډول انجه وکرله او په وینا یې ډېره ښــه پایله یــې درلوده. نوموړي وویل، د دوی څېړنو ښــودلې چې د هلمند آب وهــوا د انجې کرلو لپاره ډېره مناســبه ده او هیلــه ده چې لا ډېر بزګر دغه بوټی وکړي. بشردوســت دغه راز وویل د کرنې ریاســت به ټولو هغــو کروندګرو ته روزنه ورکړي چې غواړي په خپلو ځمکو کې انجه وکري.

## سمنګانو او بلخ کې له څه باندې...

ورته مهال د بلخ په مارمل ولســوالۍ کــې ۸۶۶ اړمنو کورنیو لپاره د خوراکي توکو مرسته وشوه، چې په کې هرې کورنۍ ته ۵۰ کیلو اوړه، ۵ کیلــو غوړي، ۶.۲۵ کیلــو دال نخود او د ماشــومانو لپاره تقویتي توکي ووېشل شول.

